Fed. Word 04 Dec. 64

# علمي اجتماعي او ادبي

سلواغه ـ کب (۱۳۴۲) لمر نی کال د (۱۹۶۴) عیسوی کال فبروری او مارچ


| شمیر | مضمون | لیکوال | مخ |
|---|---|---|---|
| ۱ـ | د نړۍ د ختیځ پوهانو ۲۳ کانګرس | رشتین | ۱ |
| ۲ـ | د پښتو د نثر تاریخچه | رشتین | ۴ |
| ۳ـ | د پښتو ولسي ادب ته یوه کتنه | شپون | ۳۴ |
| ۴ـ | خلاصة المریدین | میر حسین شاه | ۵۹ |
| ۵ـ | په ډیلي کښې د ختیځ پوهانو کانګرس | رشتین | ۷۱ |
| ۶ـ | د ختیځ پیژندونکو په ۲۶ کانګرس یوه تبصره | شپون | ۷۴ |
| ۷ـ | د هند د ځینو ښارو او کتابخانو کتنه | رشتین | ۸۴ |
| ۸ـ | د ختیځ پوهانو په ۲۶ کانګرس کښې د افغانی هیئت فعالیت | رشتین | ۹۴ |
| ۹ـ | راغلي لیکونه | اداره | ۹۸ |



امتیاز — د پښتو ټولنې

مشر — پوهاند رشتین

مسئول مدیر — محمد صدیق روهي


یادګیرنه: دا ګڼه د ختیځ پوهانو د ۲۶ کانګرس د پاره تخصیص شوې ده.

2006204653

# د نړۍ د ختیځ پوهانو ۲۶ کانګرس

لکه چه ښکاره ده د ۱۹۶۴ع کال د جنوري د میاشتې په سر کښې د نړۍ د ختیځ پوهانو شپږ ویشتم کانګرس د یو ایشیایي مملکت په مرکز (ډیلي) کښې جوړ شوی ؤ.

دغه کانګرس په درې کالو کښې یوځل د نړۍ د یو مشهور مملکت په مرکز کښې غونډیږي او د ختیځ پیژندنې په باره کښې نوی څېړنې او تازه معلومات ټولې دنیا ته وړاندې کوي. پنځه ویشتم کانګرس په (مسکو) کښې جوړ شوی ؤ. او څلور ویشتم د المان په (مونشن) کښې ؤ او بنایي چه (۲۷) کانګرس به په (نیویارک) کښې جوړ شي.

دغه کانګرس ته د ټولې نړۍ ستر ستر پوهان او عالمان راغلي وو. چه د ټولو کسانو شمیر (۶۰۰) تنو ته رسیده.

په دغه کانګرس کښې د هند (۶۰۰) تنو پوهانو برخه اخستې وه.

د شوروي اتحاد له خوا پکښې (۴۰) تنه پوهان شریك شوي وو، د ایران پوهان لسو تنو ته رسیدل په ایراني هیئت کښې سپین ږیري او ځلمي پوهانګډ وړاغلي وو. استاد پورداود، ښاغلي بدیع الزمان فروزانفر، ښاغلي سعید نفیسي، ډاکتر بیاني، ډاکتر زرین کوب، ښاغلي ناصر، ښاغلي حافظ او ښاغلي علي اکبر جعفري یې مشهور غړي وو.

دشوروی اتحاد په پوهانو کښې ښاغلی عبد الغنی میرزایوف، او ښاغلی ابرونزکی دسرسړی وو.

په دی کانګرس کښې دپښتو ژبې پوهان هم شامل وو لکه د ناروی نومیالی مارګن ستر نه اونور.

دامریکې په پوهانو کښې ډاکتر فرایی او دالمان په پوهانو کښې ډاکتر (لو نز) دنامه خاوندان وو.

دډنمارك مشهور پوهاند موسیو (بار) او دسویس نومیالی ختیځ پوهاند موسیو (رادار) هم پکښې شامل وو. غرض داچه په دغه کانګرس کښې دنړۍ ډېرو نومو ړو عالمانو او پوهانو ګډون کړی ؤ.

دې کانګرس ته دافغانستان له خواهم یوه ډلګۍ تللی وه. د افغانستان استازو دپښتو ژبې په بېلو بېلو اړخونو خپل کنفرانسونه دنړۍ پوهانو ته واورول او ددوی غوږونه یې دپښتو ادب له تاریخ سره اشنا کړل. دافغانستان په هئیت کښې دغه دري کسان شامل وو: پوهاند رشتین دپښتو ټولنې رئیس، ښاغلی میر حسین شاه د ادبیاتو د پوهنځی مرستیال، ښاغلی سعدالدین شپون د پښتو ټولنې غړی. دغه کانګرس دجنوری دمیاشتې په څلورمه نیټه شروع شو او په لسمه نیټه ختم شو. په دې شپږو ورځو کښې په سو ونو مقالې ولوستل شوې او دختیځ پوهنې او علم په دنیا کښې ډېر نوی شیان منځ ته راووتل.

ددی کانګرس دچلولو او اداري بند و بس د هند د ثقافت او کلتوری وزارت له خوا شوی ؤ.

دکانګرس ریاست دپروفیسر همایون کبیر په غاړه ؤ. هره ورځ به دټولې نړۍ دپوهانو بیل بیل ټولګی دنوی ډیلی په (وګیان بهون) کښې سره راغونډېدل او دعلم او پوهې رڼا به یې خپرو له. دغه کانګرس په

ډېر وخانګو ویشل شوی ؤ لکه د اسلامي څېړنو څانګه ، د هند پېژندنې څانګه ، د مصر پېژندنې څانګه او نور .

ایراني ، تاجیکي او افغاني پوهان په یوه څانګه کښې ناست وو . په دې څانګه کښې د هند ډېر پوهان هم شامل وو .

په تېره د هند پارسیانو دغې څانګې ته یو خاص رنګ ورکړی ؤ . په سپینو جامو او سپینو اوتورو ږیرو کښې د اوستا لوی لوی پوهان ، عالمان او ډاکټران هره ورځ د ګر دومیزونو ترشا لیدلی کېدل او د اوستا ګاتو نه به یې لکه د حافظانو له یادوویل .

په دې کانګریس کښې هر ډول پوښتنې او څېړنې آزادې وې . هر چا کولای شول چه له هر پوهاند څخه د هغه د کنفرانس په باره کښې پوښتنې وکړی یا پرې تنقید او اعتراض وکړی .

ډېرځله به پکښې د پروفیسرانو ترمنځ یوه علمي مباحثه توده شوه او او ریدونکو به ترې پوره خوندونه اخیستل .

د کانګرس خبرې به هره ورځ د هند د ثقافت د وزارت له خوا په یو خاص (بولتن) کښې خپرېدلې او د هرې ورځې د مقالو لنډیز به پکښې هم نشریده . په دې شان دغه علمي مرکه او غونډه پس له شپږ وورځو څخه ختمه شوه او هر څوک خپلو هیوادو ته ولاړل .

مونږ غواړو د ګرانو لوستونکي د معلومات د پاره د افغاني استازوویل شوی کنفرانسونه د کابل په مجله کښې خپاره کړو او د نورو پوهانو لاس ته راغلې مقالې هم د خپرونې میدان ته راوباسو او په دې صورت د کابل مجلې یوه خاصه ګڼه د علم مینانو ته وړاندې کړو .

(رشتین)

# د پښتو د نثر تاریخچه

ددې کنفرانس لنډیز د جنوري په ۱۰ نیټه د ختیځ پوهانو په ۲۶ بین المللي کانګرس کښې ویل شوی دی .

پښتو یوه زړه آریایي ژبه ده چه د نسبتي (و) په زیاتوالي د (پښت پکـــت) قبیلې ته منسوبیږي . ((پکت)) هغه ستره اریایي قبیله ده چه درې نیم زره کاله پخوا د ریګویدا په سندر وکښې راغلې ده .

پښتو ژبه په شرقي اریایي ژبو کښې په میدي خیل پورې اړه لري نو میالي ختیځ پوهاند ګریرسون وایي چه میدي ژبې د ایران په شرقي خواوو کښې ویلې کیدې . نو ځکه دی د پامیر او هندوکش ژبې لکه : پراچي ، پشه یي ، اورمړي او پښتو په دغه ګروپ کښې شاملوي . دی په خپله اصطلاح دغوژ بوته نن پارسیك ژبې وایي . او مونږ دغه نا پارسي ژبې د باختري ژبو یا ((پښتیك)) په نامه یادوو . دا ژبې د پارسیك او هند یك ژبو تر منځ سیمه کښې ویل کیږي چه په جغرافیایي لحاظ د اکسوس او اندوس تر منځ غزیدلې پرته ده .

د شرقي اریایي ژبو په دغه کورنۍ کښې تر ټولو زړه مشهوره او غښتلي ژبه پښتو ده چه اوس د شل ملیونه پښتون اولس ملي اورسمي ژبه ګڼل کیږي .

له کینی خوا : پوهاند رشتین شپون میرحسین شاه ، مادام رادار ، موسیو رادار ، پروفیسر مارگن سترنه

دپروفیسر موریسن انګریز په وینا د پښتو ژبې زده کړه د هغه چا دپاره چه د اوستا او نورو زړو لیکو نو ترجمه کوی، ډیره ضروری ده.

که څه هم ځینې ختیځ پوهان پښتو ژبه په ایرانی ګروپ او ځینې په هندی ګروپ کښې شامله بولی مګر دپښتو پوهانو نظریه، څیړنه او پرېکړه داده چه پښتو په یوځانګه ګروپ پورې اړه لری چه دایرانی او هندی ژبو تر منځ دپیوستون کړی بلل کیږی.

مونږ دلته د پښتو ژبې له زاړه تاریخ او لغوی څیړنې څخه تیریږو او یوازی د پښتو دلیکلی ادبی تاریخ پریوه برخه یعنی نثر باندې رڼا اچوو. ځکه چه دا برخه تر اوسه پورې پټه پاتې شوی ده او ډیره څیړنه پکښې نه ده شوی.

مونږ د پښتو لیکلی نثر پردرې لویو دورو ویشو:

۱ـ پخوانی دوره ۲ـ منځنی دوره ۳ـ اوسنی دوره.

د پخوانی نثر دوره له (۳۰۰ھ) څخه شروع کیږی او تر (۹۰۰ھ) پورې رارسیږی (۹۰۰ع ـ ۱۵۰۰ع) ددې دورې په لومړی برخه کښې زمونږ لاسوته یوازې د نثر دیو څو کتابونو مونه رارسیدلی دی او هغه دادی:

۱ـ دسالو وړمه: دموجوده معلوماتو له مخه داد پښتو نثر لومړی کتاب ګڼې دابومحمد هاشم سروانی له خوا لیکل شوی دی ابو محمد هاشم په (۲۲۳ھ) د کندهار په (سروان) کښې زیږیدلی او په (۲۹۷ھ) کال په بست کښې وفات شوی دی. ده په عربی، پارسی او پښتو ژبو کښې شعرونه هم ویلی دی او یو ستر عالم سړی ؤ. دغه کتاب یی دعربی شعرونو دفصاحت او بلاغت په بیان کښې لیکلی او د پښتو ژبې د نثر لومړنی لیکلی اثر ګڼل کیږی.

۲ـ تاریخ سوری: دا کتاب ښاغلی محمد بن علی بستی لیکلی دی

او دسور یانو دزمانی یو سیاسی اوادبی تاریخ دی. شیخ کټه نومی پښتون لیکوال وایی چه ما دمحمد بن علی بستی تاریخ سوری دغور په (والشتان) کښې لیدلی ؤ. شیخ کټه په خپل کتاب (لرغونی پښتانه) کښې دامیر کروړ سوری، شیخ اسعد سوری، ښکارندوی حالات او اشعار له دغه کتابه را نقل کړی دی. چه بیا پټې خزانې له (لرغونی پښتانه) څخه اخیستی دی او په دغه ډول مونږ ته رارسیدلی دی.

ددی دورې په دوهمه برخه کښې ترټولو مشهور کتاب (تذکرة الاولیأ) نومیږی. دا کتاب په (۶۱۲هـ) کال د کندهار په (ارغسان) کښې لیکلی شوی دی او مؤلف یې سلیمان ماکو سابزی دی. په دی کتاب کښې د پښتنو بزرګانو اولو یانو حالات بیان شوی دی. د بیټ نیکه، شیخ اسمعیل، تایمنی، ملکیار غرشین او بختیار پښتو شعرونه هم ددغه قیمتی کتاب په واسطه زمونږ ګوتو له راغلی دی او د پښتو د ادبیاتو تاریخ ور باندې بنایسته شوی دی. مګر له بده مرغه چه دغه کتاب هم ټول نه دی موندل شوی او یوازې یو څو پاڼې یې په (کندهار) کښې پیدا شوی دی.

د نثر نمونه:

نقل کاوه شی چه په روزګار دغازی شهاب الدین چه پر کفر یرغل ؤ شیخ ملکیار چه د غرشین ستانه ؤ، هم ملګری ؤ د شهاب الدین چه په ډیلی کې هغه ستر واکمن ټاټوبی ورو ښانده او هم هورې مړ شو.))

د تذکرة الاولیأ نثر یو تاریخی او دینی نثر دی. د پښتو پخوانی لغتونه پکښې ډیر دی د پښتو اصلی رنګ پکښې زیات او د عربی د زیات اثر لاندی نه دی راغلی.

ددی دورې په دوهمه برخه کښې د ځینی نورو کتابونو نمونه هم مونږ ته معلومه دی مګر په خپله کتابونه لاس ته نه دی راغلی او هغه دادی:

۱ـ لرغونی پښتانه: د پښتنی تاریخ یو غوره قیمتی اثر ؤ چه د شیخ کټه له خواد (۷۵۰ھ) په شاو خوا کښې لیکل شوی دی. دا کتاب د پټې خزانې د مؤلف محمد هوتك لاس ته ورغلی ؤ او هغه ورځنې ډیر غوره معلومات را نقل کړی دی.

۲ـ د شیخ ملی د تر: شیخ ملی د (۸۰۰ھ ـ ۱۴۰۰ع) په شاوخوا کښې د پښتو یو ستر مشر او غښتلی لیکوال ؤ. ده د یوسف زود هجرت او د پښتنی ټپو تر منځ د ځمکو د ویش په باره کښې یو ډیر مهم کتاب لیکلی دی دغه ویش داولس په خوښه کیده او هر چا ته پکښې مساوی برخه رسیدله. د شیخ ملی د دوتر یوه نسخه د نو میا لی ختیځ پوهاند مستر راورټی لاس ته ورغلې وه او ښایی چه د لندن په کومه کتابځانه کښې ساتل شوی وی.

۳ـ د کجو خان راڼی زی تاریخ: کجو خان هم د یوسف زو یو لوی مشر او پوه لیکوال ؤ چه د پښتنو د تاریخی پیښو او حالاتو په باب یې په (۹۰۰ھ) یو کتاب لیکلی دی. دغه کتاب هم مستر راورټی لیدلی ؤ او د خپلې پښتو ډکشنرۍ په سریزه کښې یې یادونه کړې ده.

منځنۍ دوره:

دا دوره له (۹۰۰ھ ـ ۱۵۰۰ع) څخه شروع کیږی او تر ۱۳۰۰ھ ـ ۱۹۰۰ع پورې را رسیږی. دا دوره هم دوې برخې ده او د دواړه برخې د پښتو د نثر په تاریخ کښې ډیر اهمیت لری. د دې دورې د لومړۍ برخې کتابونه په ورو سته ډول ښو دل کیږی.

۱ـ خیر البیان: د پښتو یو مشهور دینی او مذهبی کتاب او د میارو ښان پیر روښان یو غوره اثر دی. دا کتاب په څلورو ژبو عربی، پارسی، هندی او پښتو لیکل شوی دی. میا روښان په ۹۳۱ھ کال د

وزیرستان په کانی ګرام کښی زیږیدلی او بیا په ۹۸۰ھ کال کښې وفات شوی دی . دی سر بیره پر دې چه دپښتنو یو روحانی مشرؤ، دسیاسی فکر خاوند هم ؤاو په دغه اساس یې دمغلو له لویې امپراطورۍ سره دپښتنی حکومت دجوړو لو دپاره ډیرې کلکې جګړې کړی دی .

دخیرالبیان یوه قلمی نسخه دالمان په (رو نتنګن) نومی ښار کښې موجوده ده دد غې نسخې له مخه دوه کاپۍ دمیکرو فلم" په ذریعه اخیستل شوی دی چه یوه دپیښور په پښتو اکیډیمۍ کښې خوندی ده او بله په کابل کښې له ښاغلی بینوا سره ده .

دنثر نمونه :

«مرګ به ورشی وسړی ته ناګهان
نشته په دنیا کښې دسړی تل تر تله مقام
ګوره دد غې زمانې ادمیان
غواړی دنیا او هر چه پکښې دی
مشغول دی ډیر ادمیان
ځینی په کرلو یا په بازار ګانی
یا په پوونده ګلی یا په تور کښی باندې
ځینی په نور چار مشغولی کا ادمیان»

دخیرالبیان نثر یو دینی او مذهبی نثر دی مګر دپخوانی نثر ساده ګی او اسانتیا نه لری .

دجملو په جوړولو کښې یې دعربی اغیز زیات لیدل کیږی مګر دلغا تو دسوچه والی په برخه کښې یې دپخوانی نثر خصوصیت ساتلی دی . په لفظی لحاظ دخیرالبیان نثر په قافیه وال نثر کښې شامیږی اودا په پښتو کښې دمقفی نثر لومړی مثال دی . مګر دغه راز نثر

یوازې د دینی موضوعاتو د پاره ور واج موندلی ؤ.

۳ـ مخزن الاسلام: دا کتاب هم یو دینی او مذهبی اثر دی چه د اخون درویزه له خوا لیکل شوی او زیات شهرت یې موندلی دی.

اخون درویزه یو دینی ملا ؤ او د پیښور په سیمه کښې اوسیده. له میارو ښان سره یې سخت مخالفت درلود او هغه یې د «پیر تاریك» په نامه یاد اوه. وایی چه په دی کار کښې د مغولی حکومت لاس هم نښتی ؤ.

د مخزن الاسلام قلمی نسخې ډیرې پیدا کیږی او ټول له پښتو نخوا ترې ډکه ده. دا کتاب په هند کښې چاپ شوی هم دی.

د مخزن په بیلو بیلو نسخو کښې د اخون درویزه د (۱۳) تنو شاګردانو او اولادې د کلام نمونې او ځینی نیمګړی شعرونه هم لیدل شوی دی. د مخزن نثر هم د خیر البیان په شان په قافیه وال نثر کښې شامل یږی. مګر ځینی جملې یې موزونې هم راځی او په دی وجه ورته وزم وال نثر هم ویلای شو. د مخزن په نثر کښې عربی توری زیات او د پښتو زاړه لغتونه پکښې لږ دی او په دی برخه کښې له خیر البیان څخه ورو سته دی. د دې سلسلې نور کتابونه دادی:

۱ـ فوایدالشریعت: یو دینی کتاب دی چه په (۱۱۲۵ھ) کال د اخون قاسم له خوا لیکل شوی دی. د دې کتاب نثر هم په قافیه وال نثر کښې شامل یږی. دا کتاب څو ځله چاپ شوی دی.

۲ـ خلاصة الاسلام: دا کتاب یو مذهبی کتاب دی چه فقیر حسین په روانه پښتو ترجمه کړی دی او د تصوف ګران مسایل پکښې بیان شوی دی.

حسین د اخون درویزه هم زمانه او هم خیاله ښکاری. ده د تصوف مقامونه څلور ښودلی دی:

شریعت ،طریقت ،حقیقت ، معرفت. او په دې برخه کښې دمیارو بنان له فکر سره نزدیوالی لری .دی دسماع په باره کښې هم دیوې آزادې نظریې خاوند دی .د خلاصة الاسلام د لیکلو ډول دمخزن په شان دی ددې کتاب یوه قلمی نسخه په کابل کښې موجوده ده .

۳- د بابوجان مجموعه - بابوجان دلغمان د نورستان اوسیدونکی ؤ . په کوم جنګ کښې دمسلمانانو په لاس ورغی، مسلمان شو او پس له هغه د پیښور سیمې ته ولاړ او پاتې ژوندې هلته تیر کړ .

ده د پښتو په نیم منظوم نثر یوه دینی مجموعه لیکلی ده چه قلمی نسخې یې ډیرې پیدا کیږی د بابوجان ددعای سریانی منظومه ترجمه هم ډیر شهرت لری .

دمنځنۍ دورې په لومړۍ برخه کښې سربیره پر دغو دینی کتابونو ځینی تاریخی کتابونه هم لیکل شوی دی خوزیات یی ورك شوی دی او یوازې تش نومونه یې پاتې دی لکه د کامران خان سدوزی (۱۰۳۸) کلید کامرانی ، دحسین افغان (۱۰۳۳) تواریخ افغان، د شیخ بستان بریخ بستان الاولیأ (۱) او نور .

دمنځنۍ دورې په دوهمه برخه کښې د پښتو نثر لمن ډیره پراخه شوی ده او زیات کتابونه پکښې لیکل شوی دی. سربیره پر دې په دې برخه کښې د نثر په لیك ډول کښې هم ډیر توپیر راغلی دی او دعادی اوساده نثر بڼه یې غوره کړې ده نو دادی ددې دورې مهم کتابونه په وروسته ډول ښودل کیږی :

(۱) - شیخ بستان په (۱۰۰۲ ه) کال دهند په احمد اباد کښې وفات او هم هو دې خښ شوی دی .

۱ ـ دستار نامه :

دا کتاب د پښتو د نومیالی شاعر خوشحال خټک یو منثور اثر دی دستار نامه سر بیره پر دې چه د پښتو نثر یو غوره کتاب دی د معنی او مفهوم له مخې هم یو قیمتی اثر ګڼلی کیږی . په دې کتاب کښې سیاست تدبیر ، اخلاق ، پوهه او پښتو نولی داټول یوځای شوی او د پښتو په بنایسته جامه کښې څرګند شوی دی . په دې کتاب کښې ټول شل هنرونه او شل خصلتو نه بیان شوی دی چه دغه ټول د قومی او اولسی مشرۍ او باداری د پاره ضرور دی . د دستار نامې غایه اولسی او اجتماعی ده او ډیری نوی مفکورې پکښې په منظم ډول څرګندې شوی دی د دستار نامې قلمی نسخه په پیښور کښې شته او دا څو کاله کیږی چه دغلته چاپ شوې هم ده .

۲ ـ بیاض :

داد خوشحال د نثر یو خوندور کتاب دی چه د خپلې کورنۍ او قومی جنګونو حالات یې پکښې بیان کړی دی او یو غوره تاریخی سند دی . افضل خان په تاریخ مرصع کښې د دې کتاب یو څه نمونی راوړی دی .

۳ ـ پښتو هدایه :

دا یی چه خوشحال ( هدایه ) هم په پښتو ترجمه کړې ده مګر تر اوسه پوری یې کومه نسخه نه ده لیدل شوی .

د نثر نمونه : اتلسم هنر د علم موسیقی دی ، یعنی سرود ، ساز نغمه . دا علم عمیق علم دی لکه د شعر هسې بحور عروض لری . شپږ یې بحره دی د هر بحر شپږ شپږ نغمې دی . اختراع د افلاتون دی نظم هم اختراع د افلاتون دی . په مقابل یې یو د بله اختراع کړی دی اما

هر چند لوی علم دی بیا ترجیح پر ې د نظم دی » (له دستار نامې څخه)

- ۲ -

« په دامنځ کښې خبر راغی چه شجاعت ډیر لښکر سره په ګند اب کښې ډوب شو جسونت سنګه و تښ ایمل خان لو یه فتح و کړه ډیر پښتون په دا کار خوښ شو . شیر محمد خوار حیران شو هیڅ یې نه زده و و چه څه و کړم شجاعت خان د ده وسیله وورک شوی د مغل ؤ د مغل زور کم شو . »

د خوشحال په نثر و نو کښې د موضوع له مخه دستار نامه او د روانۍ او خوږ والی له مخه د بیاض نثر غوره او سپیڅلی ښکاری . د دستار نامې په نثر کښې د عربۍ کلمې ډیرې دی مګر د بیاض په نثر کښې پر دی کلمې لږ ې دی او بله د اده چه د بیاض نثر محاورې او خبر واتر وته نزدې دی .

خوشحال خان د پښتو نثر د میار و ښان له نیم منظوم سبک څخه راویستلی او یو نوی رنګ یې ور کړی دی چه په دې وجه د منځنۍ دورې د نوی سبک لار ښوونکی بلل کیږی . د ده نثر په عادی اوروان نثر کښې د خپل و خت یو ښه نثر باله شی او د ختګو د ټولی کورنۍ نثر د ده په لاره روان دی .

۴ ـ ګلدسته : د شیخ سعدی د ګلستان پښتو ترجمه ده چه په (۱۱۲۴ هـ) کال کښې د عبدالقادر ختک له خوا شوې ده .

عبدالقادر د خوشحال ختک زوی او د پښتو یو پوخ شاعر او تکړه لیکوال دی . حدیقه ختک او یوسف زلیخا د ده مشهور منظوم اثرونه دی خو په نثر کښې دغه یو اثر لری . ګلدسته که څه هم له پارسی نه ترجمه شوې ده خو پښتو یې روانه ، جملې یې لنډې او مطلب یې

څرګند دی . له دې کبله ورته یو کامیابه ترجمه ویلای شو . د ګلد ستې یوه قلمی نسخه د پیښور په پښتو اکیډمۍ کښې شته .

۵ ـ قلب السیر : دا کتاب د خوشحال خټک بل زوی ګوهر خان له پارسی نه په پښتو ترجمه کړی دی . دا کتاب د حضرت محمد (ص) سیرتونو ، حالاتو او غزاګانو هینداره ده . ټول کتاب دیرش بابه او نزدې (۸۰۰) مخه دی . د دې کتاب یوه قلمی نسخه د پیښور په موزیم کښې شته ده مګر تراوسه د چاپ ډګر ته نه ده راوتلی .

۶ ـ تاریخ مرصع : دا کتاب د خوشحال خټک د لمسی افضل خان یو مشهور تاریخی اثر دی په دې کتاب کښې د پښتنو عمومی تاریخ او د خلکو حالات بیان شوی دی .

دا کتاب تراوسه نه دی چاپ شوی یوازې مسټر راورټی او پادری هیوز یې یو څو بابه په (ګلشن روه او کلید افغانی) کښې چاپ کړی دی

۷ ـ علمخانهٔ دانش ـ دا کتاب د افضل خان خټک یو بل منثور اثر دی چه د پارسی له کلیلې د منې څخه په پښتو ترجمه شوی دی .

کلیله او دمنه په اصل کښې د (پنج تنترا) په نامه د هند د حکیمانو له خوا لیکل شوې ده .

بیا په پهلوی ، عربی او پارسی ژبو ترجمه شوې ده . او پښتو ترجمه یې د افضل خان په کلکه اراده په (۱۱۲۸ هـ) کال منځ ته راوتلې ده . او یو ډیر مناسب نوم یې ورباندی ایښی دی یعنی د پوهې کور .

دا کتاب په رشتیا د پوهې او علم کور او د پند او مکتب له خبر وډک دی . دا کتاب تراوسه چاپ شوی نه دی یوه قلمی نسخه یې د پیښور په موزیم کښې شته .

د نثر نمونه : « و پوهیږه چه کتاب د کلیله او دمنه جمعه کړی

دهندوستان ددانشورانو دی. همیشه به دانایان اوعالمان د یونان، دفارسی په دافکر ووچې یو کتاب دملوکانو دپاره دستورالعمل ساز کړو. امادا له چاونه شو مګر دهندوستان په حکیمانو ساز شو.

لویې لویې خبرې د بې زبانو جمع کړی فایدی پکښې ملاحظه کړی».

دافضل خان نثر دمعنی اولفظ دواړوله مخه زیات اهمیت لری. دانثرهم په عادی اوساده نثر کښې شاملیږی اود خوشحال خان دسبک تابع باله شی. افضل خان په شعر کښې لاس نه لری مګر دنثر دمیدان یو تکړه پهلوان دی.

۸ـ تاریخ اعثم کوفی: داکتاب په اول کښې خواجه احمدبن اعثم کوفی په عربی ژبه لیکلی دی. بیا محمد بن احمد مستوفی په (۵۹۶ هـ) کال په پارسی اړولی دی اوپس له هغه محمد مظفر نومی لیکوال په (۱۱۳۶ هـ کال) په پښتو ژبه ترجمه کړ. محمد مظفر د پیښور دکوهاټ اوسیدونکی ؤاود غه کتاب یې دافضل خان خټک په سپارښتنه پښتو کړی دی. داکتاب هم تراوسه چاپ شوی نه دی مګر قلمی نسخه یې په پیښور کښې شته ده. ددې کتاب نثر د افضل خان له نثر سره ډیر نزدیوالی لری.

۹ـ اختیارات بدیعی: داکتاب مولانا عبدالحلیم د افضل خان خټک په وینا په په(۱۱۳۰هـ) په پښتو ترجمه کړی دی اویوطبی کتاب دی. ټول کتاب (۸۰۴) مخه دی، پښتویې آسانه اوروانه ده اودزیاتو دواګانو نومونه یې په پښتو اړولی دی. د دې کتاب قلمی نسخه درامپور په رضا کتابخانه کښې شته.

۱۰ـ د ادم اودرخانی کیسه: آدم او درخانی په یوسف زو کښې

دوه مشهور مینان تیر شوی دی. ددوی دعشق او مینې کیسه په ټوله پښتو نخوا کښې دومره شهرت لری لکه په عربو کښې لیلی او مجنون. دا کیسه په پښتو نظم کښې ډیره لیکل شوې ده مګر په پښتو نثر کښې مونږ ته دغه یو اثر معلوم دی چه لیکونکی یې (مسعود) نومیږی. دا کیسه یو ځل په پیښور کښې چاپ شوې هم ده او یوه قلمی نسخه یې په کابل کښې موجوده ده.

۱۱ـ د محمد رسول بیاض: دا کتاب محمد رسول هوتك لیکلی دی او یو ادبی او تاریخی اثر دی. د پټې خزانې مؤلف محمد هوتك دغه کتاب لیدلی ؤ او د سلطان بهلول لودی او خلیل نیازی شعرونه یې ورڅخه رانقل کړی دی.

۱۲ـ نافع المسلمین: یو دینی او مذهبی کتاب دی. لیکونکی یې نورمحمد نومیږی چه د شاه حسین هوتك د پاچاهۍ په وخت په کندهار کښې اوسیده. دا کتاب که څه هم د دولسمې هجری پیړۍ په لومړۍ برخه کښې لیکل شوی دی مګر د لیکلو سبك یې داخون درویزه د مخزن په شان دی او نیم منظوم سبك ورته ویل کیږی.

۱۳ـ پټه خزانه: د منځنۍ دورې د دوهمې برخې یو مشهور او غوره اثر پټه خزانه ده دا کتاب هم د شاه حسین په زمانه کښې د محمد هوتك له خوا په کندهار کښې لیکلی شوی دی محمد هوتك د خپل وخت یو غښتلی لیکوال او پوه مؤرخ دی. په دې خزانه کښې یې د ډیرو لرغونو شاعرانو حالات او شعرونه راټول کړی دی او د پښتو ادب ډیرې قیمتی ملغلرې یې پکښې ساتلی دی.

د دې کتاب په برکت د پښتو د ادب تاریخ د دوهمې هجری او اتمې عیسوی پیړۍ اول سر ته ورسید او د امیر کروړ سوری د اجنګی سندره

(زه یم زمری پردې دنیاله ماتل نسته) دپښتو دلومړنی شعر په نامه دپښتو ادبیاتو په تاریخ کښې ولیکل شوه. پټه خزانه شل کاله پخوا په کابل کښې دښاغلی حبیبی په سمونه او کتنه چاپ شوه. داکتاب دهغې نسخې له مخه چاپ شوی دی چه په (۱۳۰۳ ه) کال کښې د محمد عباس کاسی په قلم لیکل شوې وه. اودا نسخه له هغی نسخې څخه نقل شوې ده چه په (۱۲٦۵ ه) کال د نور محمد خروټی په قلم دسردار مهر دل خان د پاره په کندهار کښې لیکل شوې ده. او ښایی چه دانسخه به له اصلی نسخې څخه نقل شوی وی.

دنثر نمونه: «هسی وایی محمد کاتب ددې کتاب چه یوه ورځ دپادشاه ظل الله په قصر کښې مجلس ؤ اوفضلااوعلما سره راټول. ناګاه احوال وسوچه قاصد راغلی دی او پیغام یې له لیرې ځایه راوړی ملازعفران دباندې ولاړ. یوګړی پس بیرته مجلس ته راغی اوزیری دفتح دشال اوبروب یې وکا»

دپټې خزانې نثریوساده او روان نثر دی ګرانې جملې او نااشنا لغتونه نه لری اود دولسمې پیړۍ په نثرونو کښې ترټولو خوږ او ښه نثر دی. په دې نثر کښې دپخوانی نثر ځینی نښانې شته دی لکه د (کا، وکا) دکلمو استعمال. په عمومی لحاظ دپټې خزانې نثر دخوشحال خان دنثری سبك تابع ښکاری.

۱۴- احمد شاهی فتاوی: دا یو دینی او مذهبی کتاب دی چه دلوی احمدشاه بابا په وینا د میرعبدالله له خوا لیکل شوی دی. میرعبدالله په پیښور کښې دقضا په منصب مقرر ؤ او په دغه وجه دده کورنۍ په قاضیانو مشهوره ده دده په نمسو کښې قاضی میراحمدشاه رضوانی ډیر شهرت درلود اود «شمس العلمأ» لقب ورکړشوی ؤ.

احمد شاهي فتاوی په پښتو ژبه کښې یوه ستره علمي پانګه ده چه د احمد شاهي سلطنت د محکمو یو شرعي قانون ورته ویلای شو. ددې فتاوی یوه قلمي نسخه چه (۶۸۸) مخه ده په (۱۱۹۹ھ) کال کښې لیکل شوې او په پیښور کښې موجوده ده.

۱۵- معرفة الافغاني: دا کتاب د پښتو ژبې لومړی درسي کتاب دی چه د پیر محمد کاکړ له خوا په کندهار کښې د شاهزاده سلیمان د پاره لیکل شوی دی.

په دې کتاب کښې اساني وړې وړې جملې راغلې دی او ځینې ګرامري قاعدې هم پکښې ښودل شوی دی د ددې کتاب نثر په ساده او روان نثر کښې یو ښه نثر ګڼل کیږی.

ددې کتاب ځینې قلمي نمونې پیدا شوی دی مګر چاپ شوی نه دی.

۱۶- تواریخ رحمت خاني: د میامعظم شاه له خوا دهند په روهیلکنډ کښې په (۱۱۸۱ ھ) کال کښې لیکل شوی دی. د پښتنو اولسونو په تیره د یوسف زویو مهم تاریخ دی. یوه قلمي نسخه یې د لندن په موزیم کښې شته ده.

۱۷- پښتو ګلستان - دا کتاب امیر محمد انصاری دهند په کلکته کښې د شیخ سعدی له ګلستان څخه په پښتو ترجمه کړی دی. مستر راورټي وایي چه دا اثر ډیر نایاب دی. ښایي چه کومه نسخه یې په برټش موزیم کښې موجوده وی.

۱۸- تذکرة الملوك: دا کتاب مونږ د مستر راورټي له یادونې څخه پیژنو په دې کتاب کښې د سدوزو د کورنۍ او پاچاهۍ حالات بیان شوی دی او یو مهم تاریخ دی خو کومه نسخه یې په پښتو نخوا کښې نه ده لیدل شوی.

۱۹ـ ریاض المحبة: د پښتو یو لغوی کتاب دی چه د هند په روهیلکنډ کښې د حافظ رحمت خان زوی نواب محبت خان لیکلی دی . دا کتاب د پښتو یو ډېر ښه فرهنګ دی .

۲۰ ـ عجایب اللغات: دا کتاب د پښتو ژبې یو ښه قاموس دی چه په څلورو ژبو پښتو ، هندی ، پارسی او عربی لیکل شوی دی . او د حافظ رحمت خان بل زوی الله یار خان لیکلی دی . ددې کتاب یوه نسخه د لندن په بریتش موزیم کښې شته دی(۱) .

۲۱ ـ فرهنګ اپریدی : دا کتاب د پنځو ژبو یو شریك لغت او یو بی جوړې کتاب دی چه قاسم علی اپریدی د هند په (فرخ ابـا د) کښې لیکلی دی ، دغه پنځه ژبی دادی : پښتو ، هندی ، پارسی ، کشمیری ، انګریزی . ددې کتاب یوه قلمی نسخه د پیښور د اسلامیه کالج په کتابخانه کښې شته .

۲۲ ـ د پښتو تفسیر : د هند د رامپور په کتابخانه کښې د پښتو یو تفسیر هم شته چه لیکونکی یی افضل خان افغان نومیږی .

۲۳ ـ دایسیپ حکیم کیسی : دا کیسی مستر راورټی په پښتو ترجمه کړی دی او په (۱۸۷۱ ع) په لندن کښې چاپ شوی دی . دغه کیسی د تاریخ او دغسې نورو کتابو په ډول لیکل شوی دی او یو پخوانی رنګ پکښې خرګندیږی .

۲۴ ـ سراج الموتی : دا کتاب شمس الدین کاکړ لیکلی دی . یو دینی او مذهبی اثر دی او په پښتو نثر په نیم منظوم سبك لیکل شوی دی . دی د خلاصة المریدین په نامه یو تصوفی اثر هم لری .

(۱) د ریاض المحبت او عجائب اللغات قلمی نسخې د رامپور په رضا لایبریری کښې خوندی دی .

۲۵ - تفسیر بدرمنیر: دا کتاب دوست محمد خټک د مولانا واعظ کاشفي له تفسیر حسیني څخه په پښتو اړولی دی. ددې کتاب نثر که څه هم اسان اوروان دی مګر د عربي ژبي اثر پکښې لیدل کیږي او کله کله فعل له مفعول څخه د مخه راوړی لکه (وایه معنی ددې آیة) ددوست محمد نیکونه له خټکو څخه کندهار ته تللي وو او دی په خپله هورې اوسیده.

۲۶ - تفسیر یسیر: دا تفسیر په (۱۲۸۳ھ) کښې د ننګرهار د کامې اوسیدونکي مراد علي صاحبزاده لیکلی دی دا تفسیر په پښتو کښې زیات شهرت لري او ښځې یې په کورو کښې لولي.

مراد علي صاحبزاده د موعظو او خطبو په باره کښې یوه پښتو رساله هم لیکلې ده. د تفسیر یسیر او تفسیر بدرمنیر د لیکلو سبک سره یو شان دی. تفسیر یسیر څو ځله په هند کښې چاپ شوی دی.

۲۷ - ګنج پښتو: دا کتاب مولوی احمد لیکلی دی او په پښتو کښې د کیسو لومړنی لیکلی اثر دی مولوی احمد د پیښور د (تنګی) نومی کلي اوسیدونکی ؤ دی یو ښه عالم او پوه لیکوال ؤ او په اخر کښې د انګریزانو د پښتو استاذ شو. ده له تاریخ فرشتې څخه د سلطان محمود غزنوی تاریخ هم په پښتو ترجمه کړی دی دده دغه دواړه کتابونه چاپ شوی دی.

د نثر نمونه: «د بخیل سړی هم مال زیانیږی او هم یې غم زیاتیږی یعنی دوه تاوانه ورته پیښیږی.»

په دې نثر کښې د سمون او ښه والی نښې پیدا شوی دی او د پښتو محاورې او خبرواترو رنګ پکښې ځان ښکاره کوی. یعنی دا نثر د منځنۍ دورې داخری برخې یو کامل اوغوره نثر بلل کیږي.

اوسنۍ دوره :

د پښتو د نثر اوسنۍ دوره له (۱۳۰۰ هـ - ۱۸۸۰ ع) څخه شروع کیږی او تر اوسه پورې چلیږی . په دې دوره کښې د پښتو نثر زیات تحول کړی دی اود نثر په لفظی اومعنوی خواؤ کښې یو ښکاره بدلون راغلی دی . دا دوره هم دوې برخې لری اوپه ورو سته ډول ښودل کیږی :

لومړی برخه :

۱ - دافغانستان تاریخ : داکتاب منشی احمدجان دمیلسون نومی انګریز له تاریخ نه ترجمه کړی دی . په دی کتاب کښې د ترجمې رنګ ډیر لږدی اودروانی پښتو رنګ پکښې زیات دی .

۲ - دقصه خانۍ ګپ : داکتاب هم دمنشی احمد جان اثردی .

۳ - هغه دغه : په دی نامه هم منشی احمد جان یو کتاب لری . دادریواړه کتابونه چاپ شوی دی .

دنثر نمونه : «آدم خان د آشنا کټ ته ورسید ، درخو تار تار په تار په پالنګ اوده پرته وه . څنګز نې سپوږمۍ او یو نیم ستوری یې په غلا غلا دیدن کولو .»

دمنشی احمد جان په نثر کښې یو خوږ ادبی کیف او خوند پیدا شوی دی او دپښتو خوږی محاورې او متلونه پکښې رانتوتی دی. په دی وجه دی داوسنۍ دورې دنثر لار ښودونکی بلل کیږی .

۴ - شکرستان افغانی : دا کتاب قاضی میر احمد شاه رضوانی دښوونځیو دپاره جوړ کړی اویو درسی کتاب دی. ده په ار دوژ به دپښتو یوګرامر هم لیکلی دی چه (وافیه) نومیږی دغه شان نور هم ډیر کتابونه لری .

دی هم د منشی احمد په شان خوږ او روان نثر لیکی او د واړه د یوی لاري ملګری دی .

۵ ـ مدوجزر اسلام : دا کتاب د مولانا حالی له کتاب څخه په پښتو ترجمه شوی دی او مترجم یې مولانا غلام محمد پوپلزی نومیږی .

۶ ـ نقش نګین : دا کتاب میا حبیب ګل له اردو نه په داسې ډول ترجمه کړی دی چه د ترجمې رنګ پکښې نشته .

۷ ـ دابن بتو ته سفر نامه : دا کتاب میا نعمان الدین په پښتو ترجمه کړی او یو لوی ادبی خدمت یې سر ته رسولی دی . بل کتاب یې ( ) نومیږی .

۸ ـ تاریخ برامکه : دا کتاب ښاغلی مشیر الدین پښتو کړی دی او یو ستر خدمت یې سر ته رسولی دی . دی د مشیر الاخلاق په نامه یو بل اثر هم لری .

۹ ـ عنوان النصایح : دا کتاب میا عنوان الدین د پارسی له اخلاق محسنی څخه ترجمه کړی دی د دې کتاب ترجمه هم ښه ده او د پښتو یو ښه اثر ګڼل کیږی .

۱۰ توبة النصوح : دا کتاب میا محمد یوسف د نذیر احمد له اردو ناول څخه ترجمه کړی دی او د پښتو نثر یوه غوره نمونه بلل کیږی .

۱۱ ـ دا خوان الصفا ترجمه : دا مهم تاریخی او علمی اثر ښاغلی امیر علیخان په پښتو اړولی دی مګر چاپ شوی لا نه دی .

۱۲ ـ نصیحت نامه : دا کتاب ملا غلام جان لغمانی له پارسی نه په پښتو ترجمه کړی دی مګر ترجمه یې دومره روانه نه ده .

۱۳ ـ ګلشن افغانی : دا کتاب سید محمد عمر لیکلی او د پښتو شاعرانو یوه وړه غوندې تاریخچه ده .

۱۴ـ زخمیانو ته هدایتو نه : یو طبی اثر دی چه پیرمحمدله انگریزی څخه پښتو کړی دی .

۱۵ـ خیر اللغات : دپښتو ژبی یو قاموس دی چه قاضی خیرالله لیکلی دی .

۱۶ـ یوازینی پښتو : دایو درسی کتاب دی چه د کابل د پښتو مرکز له خوا لیکل شوی دی .

پښتو یې سوچه او سپیڅلی ده خو څه قدر سختی اوګرانی پکښی موجوده ده .

۱۷ـ جمال الدین افغانی : دا کتاب مولوی عبدالمجید اتمانخیل لیکلی دی . نثر یې خوږ او په زړه پورې دی . دی د (رهبر اخلاق) په نامه یوه درسی سلسله هم لری .

۱۸ـ پښتو سیند : دمحمد ګل مومندیو مشهور اثر دی . دی د پښتو لیار او لنډ کی پښتو په نامه دوه نور اثر ونه هم لری چه د ریواړه چاپ شوی دی .

۱۹ـ زما رسول پاك : دښاغلی عبدالهادی داوی یوه وړه ترجمه ده چه له اردو څخه ترجمه شوی ده .

۲۰ـ دکیمیای سعادت پښتو ترجمه : داکتاب دعبدالصمد خان اچکزی د بندیخانی دزمانی یو ادبی یادګار دی . دغه شان ده دمولانا ابو الکلام آزاد ترجمان القرآن ترجمه هم کړی ده .

دغه کتابونه تر اوسه نه دی چاپ شوی .

۲۱ـ دپښتو لومړی کتاب : دمولوی صالح محمد کندهاری تألیف او دپښتو دزده کړی دپاره یو درسی کتاب دی . ده د پښتو ژبې په نامه هم یو درسی کتاب لیکلی دی .

۲۲ـ لغات افغانی: په اردو ژبه د پښتو لغتونو یوقاموس دی او سید راحت زاخیلی لیکلی دی راحت د پښتو ژبی یو ښه شاعر او خوږ نثر نګار دی. دی د (شلیدلی پڼه) په نامه یو ناول هم لری چه په ۱۹۰۸ع کال کښې لیکل شوی او د پښتو لومړنی ناول ګڼل کیږی.

۲۳ـ د پښتنو تاریخ: په څلور ټوکه کښې د قاضی عطاءالله یو مهم اثر او غوره تاریخ دی.

۲۴ـ مکتوبات افغانی: د پښتو لیکونو یو ښه لار ښوونکی او د قاضی رحیم الله اثر دی.

دوهمه برخه:

دا وسنۍ دورې دوهمه برخه چه له ۱۳۵۰ هـ څخه وروسته شروع کیږی د پښتو د نثر د پراختیا له مخه ډیر زیات اهمیت لری. ځکه چه په دې موده کښې ډیر لیکوال د لیکوالۍ ډګر ته راوتلی دی او زیات کتابونه یې لیکلی دی. چه د ټولو بیا نول زیات وخت غواړی. نو دلته مونږ یوازې د دې برخې ځینی مهم کتابونه چه د ژبې د ژوندانه په برخه کښې لوی اغیزلری راوړل غواړو.

۱ـ پښتانه شعرا: په دری ټوکه کښې د کابل د پښتو ټولنی له خوا خپور شوی دی.

۲ـ د پښتو ادبیاتو تاریخ: دا کتاب د عبدالحی حبیبی یو غوره اثر دی چه په دوه ټوکه کښې خپور شوی دی.

۳ـ د رحمان بابا تصوف: د دوست محمد کامل یوه پخه علمی څیړنه ده.

۴ـ پښتو نولی: د قیام الدین خادم یو خوږ او منلی اثر دی.

۵ـ ژوند: د امیر حمزه شنواری یو فلسفی او اجتماعی کتاب دی.

۶ـ پښتو سندری: په نثر کښې د ګل پاچا الفت یو سپیڅلی ادبی اثر دی.

۷ـ پښتونستان: دعبدالرؤف بینوا یومشهور اثر دی.

۸ـ کچکول: داجمل خټك دنثرونو یوه ښه مجموعه ده.

۹دپښتو ادب تاریخ: درشتین یو سو دمن اثر دی.

۱۰ ـ ځولی ګلونه : ـ دماستر عبدالکریم دخوږو افسانو یو ښه یادګار دی.

۱۱ ـ دآزادی جنګ: ـ دعبدالخالق خلیق یوتاریخی اوسیاسی کتاب دی.

۱۲ ـ پښتني: دسمندرخان سمندردافسانو یوه ښکلی مجموعه ده

۱۳ـلس زره لغات : دمحمد اعظم ایازی اودده د ملګر و دکړ او نتیجه ده.

۱۴ ظفراللغات : دبهادر شاه کاکاخیل یوعلمی اثر دی.

۱۵ ـ دسوات دریاست تاریخ : دعبدالغفور قاسمی یو تاریخی اثر دی.

۱۶ ـ افغان قاموس : په درې ټوکه کښې دعبدالله خان افغانی نویس مشهور کتاب دی.

۱۷ ـ کاروان روان دی : دعبدالاکبر اکبریوه خوږه ډرامه ده.

۱۸ ـ دسیرةالنبی دریم اوخلورم ټوك: له اردونه دعزیزالرحمن سیفی خوږه اوروانه ترجمه ده.

۱۹ ـ ننګیالی پښتانه : دمحمدخانمیر هلالی یوخوږ کتاب دی.

۲۰ ـ پښتو ادب : دعبدالحلیم اثر یوښه اثر دی.

۲۱ ـ لودی پښتانه : دعبدالشکور رشاد یو تاریخی غوره تالیف دی.

۲۲ ـ ژب ویشنه : دحسین بخش کوثر یونوی اثر دی.

۲۳ - پیغله : دصاحبزاده محمد ادریس یوخوږ ناول دی .

۲۴ - دامب سفر : دنصرالله نصر یوه خوږه سفرنامه ده .

۲۵- دقرآن لار: له عربی نه دمحمد شاه ارشاد یوه ښه ترجمه ده.

۲۶ - ملی هینداره : د محمد گل نوری د ملی افسانو یوه ښه مجموعه ده .

۲۷ - پت : دمهدی شاه مهدی دلیکلو افسانو یوه ښه نمونه ده .

۲۸ - بی بی نوره : دروغ لیونی یو نوی خوږ اثر دی .

۲۹ - روح الادب : دتسنیم الحق کاکاخیل یو علمی کتاب دی .

۳۰ - پښتانه لیکوال : دهمیش گل همیش یوه ادبی تذکره ده .

په دې سلسله کښې نورهم لوی واړه ډیر کتابونه لیکل شوی دی چه د پښتو ټولنې په یو چاپ شوی فهرست کښې ښوول شوی دی او شمیر یې (۲۰۰) کتابونه رسیږی .

## د پښتو دنثر دوروته یوه لنډه کتنه

مونږ دلته غواړو چه د پښتو دنثر درې واړو دوروته یوه لنډه کتنه وکړو او ددې دورې دنثر بڼه ځړه نوره هم روښانه کړو .

د پښتو دنثر اوسنی شکل هم تر یوې اندازې پخوانی برینښی ځکه چه د پښتو دموجوده نثر او دسلیمان ماکو د نثر تر منځ کوم زیات توپیر نه لیدل کیږی .

که څه هم په پخوانۍ دوره کښې د پښتو دنثر خوا کمزورې ده او زیات کتابونه پکښې نه دی لیکل شوی یا نه دی موندل شوی خو بیا هم ددغې دورې نثر دهغه وخت دنظم په شان آسان، ساده روان او د پښتو په سوچه لغتونو ښا یسته دی او د عربی او پارسی اثر پکښې ډیر نه ښکاری .

په دې دوره کښې د پښتو کتابونو مونه هم سوچه پښتو دی لکه د سالو وږمه، لرغونی پښتانه او نور ـ د معنی له مخه د پخوانۍ دورې د نثر موضوع تاریخی او مذهبی ده .

هر اولس او هر ملت له خپل تاریخ او خپل مذهب سره زیاته مینه لری او دغه مینه خامخا د دوی په کتابونو کښې تر هر څه لومړی ځان ښکاره کوی .

کله چه د اسلام مبارك دین د پښتنو خاورې ته راورسید نو دوی په روڼ تندی ومانه او په خپلو آثارو کښې یې ورته یو ښکاره ځای ورکړ . د دې دورې د نثر ښکارندوی یوازې د تذکرة الاولیأ نثر دی ځکه چه نور نثرونه ګوتو ته نه دی راغلی .

په منځنۍ دوره کښې د پښتو د نثر لمن د کتابونو او موضوعاتو له مخه څه نا څه پراخه شوې ده . مګر لومړۍ برخه یې د معنی له حیثه په مذهبې چوکاټ کښې بنده پاتی شوې ده . په دې برخه کښې د میاروښان خیر البیان، د اخون درویزه مخزن الاسلام او د اخون قاسم فواید الشریعت ډیر شهرت لری او دغه دریواړه کتابونه په مذهبی او دینی رنګ کښې لیکل شوی دی . د دې برخې په نثر کښې یو څه تصوفی فکرونه هم پیدا شوی دی .

د دې خبرې سبب یو د اسلامی جذبې قوت او بل د امیرانو، حاکمانو، د زور ظلم ډیر ښت دی . کله چه په یوه زمانه کښې زور، ظلم زیات شی نو خلك د تصوف او ګوښه ګیرۍ خواته مخه کړی او خپله هوسایی په ځان ځانۍ کښې لټوی .

د دې برخې په نثر کښې د سبك او لیك ډول له مخه ډیر بدلون پیښ شوی دی . پخوانی نثر یو بی قیده آزاد نثر بلل کیده او د دې

برخې نثر دقافيې اوسجع په لومه کښې ونښت چه د قافيه وال نثر په نامه يادېږي. ددې تحول يولوی دليل دادی چه دغه قافيه وال سبك دوعظو نواودينی تبليغونو دپاره ډېر اغيز ناك ؤ. واعظان هميشه دوعظ په وخت کښې له آهنګ اوترنم څخه کار اخلی اوداکار دقافيه والو جملو په راوړلو په ښه شان سره کيږي.

ددې برخې په نثر کښې دعربی لغاتو اوعربی ترکيبونو زيات اغيز ليدل کيږی.

ددې دوری په نثر کښې دافعالو په پای کښې دترنم (نه) او وصليه (و) زيات راوړل کيږی لکه لرينه، راشينه، وده وته، او نور.

دمخففاتو اوزړولغاتو استعمال هم ددې برخې دنثر يولوی خاصيت دی لکه (وبله) ځبله، خپسر، مزدك، تور کښ اونور. دمزدك کلمه دامير کروړ په شعر کښې هم راغلی ده اودميار وښان په خير البيان کښې هم موجوده ده نو په دې حساب يې ترلسمې هجری پيړۍ پورې خپل ادبی عمر ساتلی دی.

دمنځنۍ دورې دوهمه برخه دآثارواوکتابونو ډېر ښت اود موضوعاتو درنګينۍ له مخه ډېره مهمه ګڼل کيږی. په دې برخه کښې سربيره پردينی اثرونو تاريخی، اجتماعی اوقصصی کتابونه هم منځ ته راغلی دی په دې برخه کښې دپښتو دنثر په سبك کښې يولوی تحول پيښ شوی دی اوهغه داچه د پښتو نثر له نيم منظوم اوقافيه وال سبك څخه بيرته عادی اوروان نثر ته اوښتی دی اوداکار دخوشحال خټك له خوا شوی دی. ددې برخې دنثر په ښه والی او سمون کښې دخوشحال کورنۍ هم ډېره لويه برخه اخيستې ده.

په پښتو نثر کښې دخوشحال دستارنامه اوبياض، د عبدالقادر

ګلدسته اودافضل خان تاریخ مرصع دختکود کورنۍ مشهور کتابونه ګڼل کیږی.

ددې دورې یو بل مهم اثر دمحمد هوتك پټه خزانه ده چه د پښتو دادب تاریخ یې تردوهمې هجری پیړۍ پورې ور ساوه اویو نوی وریې پرانیست. دمیر عبدالله احمد شاهی فتاوی دنواب محبت خان ریاض المحبت اودالله یارخان عجایب اللغات دمراد علي تفسیر یسیر اود مولوی احمد ګنج پښتو هم ددې دورې دنثر غوره اوقیمتی اثار بلل کیږی.

ددې دورې یوغټ خاصیت دادی چه دپښتو ژبې دزده کړی دپاره پکښې ځینې درسی کتابونه لکه دپیر محمد کاکړ معرفة الا فغانی او نورمیدان ته راوتلی دی.

کله چه خوشال خان دلنډی سین په غاړه، دهوډی غره په لمن کښې دپښتو دپالنې اوروزنې بیرغ پورته کړاو په پښتو ادب کښې یې دملیت او پښتو نوای روح وپوکه نوددغی رڼا پلوشی کندهار ته هم ورسیدې، محمد هوتك دپټې خزانې په لیکلو دهوتکو له شاهی دربارنه انعامونه واخیستل او په دې صورت دپښتو دپالنې رسمی دوره په کندهار کښې شروع شوه.

احمد شاه بابا هم دې پلوته پوره توجه لرله مګر زیاتو جګړو او جنګونو ورله دادبی خدمت موقع په لاس ورنه کړه. په دې دوره کښې دپښتو دروزنې انګازې دپیښور او کندهار نه یوشان پورته شوې اودواړو مرکزونو په یو بل باندې خپل اثرونه غورزولی دی.

په دې دوره کښې دپښتو نخوا دځمکې نه دباندې په هند کښې هم دپښتنو نوابانو لکه نواب محبت خان، الله یارخان اونورو خپله ژبه

نه ده هیره کړې اوخپل تاریخ یې ژوندې ساتلی دی .

ددې دورې په اخر کښې کله چه انګریزان د کوزې پښتو نخوا خاورې ته راورسیدل نو دوی هم دخپلو غرضونو د پاره دپښتو ژبې دمحدودې ترقۍ دپاره یو څه لاس اوپښې وخوځول او مولوی احمد دپا درې هیوز په سپارښتنه ګنج پښتو اوداسې نور کتابونه ولیکل .

په دې دوره کښې د پښتو د نثر لمن ډیره پراخه شوه او پښتو ژبې په شاهی دربار کښې هم د پالنې ځای وموند . په دې دوره کښې د پښتو سبك د ښه والی او سمون پر خوا ګامونه واخیستل . لغوی او ګرامری کتابونه پکښې منځ ته راغلل . په دې وخت کښې له پارسی نه په پښتو کښې د ترجمو رواج هم پیدا شوی دی او په دې وجه په پښتو کښې سربیره د عربۍ په اثر د پارسۍ اثر او اغیز هم رانښو تلی دی داوسنۍ دورې نثر د لفظ او معنی دواړو له مخه د ترقۍ په لورې روان شوی اوډیر غوره آثار پکښې لیکل شوی دی . که څه هم د پښتو اصلی بڼه تر ډیرې اندازې له ظاهری بدلون څخه خوندې پاتې شوې ده او څومره تغیر چه په پارسی اونو روژبو کښې راغلی په پښتو کښې هغو مره نه لیدل کیږی ددې خبرې یو علت د پښتو ژبې دستې او تنې پوخوالی دی اوبل سبب یې دا دی چه داژبه په غرونو، ناوونو اود رو کښې روزل شوی ده نو ځکه پرې د باندینیو چپاوونو زیات اثر نه دی پریوتی اود منځنۍ دورې په ادب کښې ډیر اوستایی اوویدی لغتونه ژوندی پاتې دی . داوسنۍ دورې په اوله برخه کښې که څه هم کتابونه لږ اولیکو ال دګوتو په شمیر دی، مګر د فکر د بیدارۍ اوویښتیا او د پښتو دمینې پلوشې په دغه وخت کښې په ځلیدو راغلې دی .

د پښتو نخواخاورې ته دغربی تمدن رانزدې کیدل اودانګریزانو راتګ په پښتوژبه باندې خپل اثرواچاه، له یوې خوا په پښتوادب کښې ددغه چپاو په مقابل د پښتو نولۍ او تورې جذبې ر اولړز یدلې اوله بلې خوا په پښتو نثر کښې دعلم رڼاننو تله. منشی احمد جان او قاضی میراحمد شاه ددې دورې داولې برخې نومیالی لیکوال اوددې ډګر غښتلی پهلوانان دی. دوی په پښتو نثر کښې دیو نوی لیک ډول اساس کښیښود او پښتو لیکو الی یې د اولس له محاورې سره نزدی اوهم غاړی کړه. پښتنی متلونه اوخوږې محاورې یې د پښتو نثر په لمن کښې راننویستلې اودغربی تمدن اوپوهنې لاریې پکښې پرانیستله. اوپه پښتو کښې یې دا نګریزۍ دترجمو بنیاد کښیښود. منشی احمد جان له انګریزۍ نه دافغانستان دتاریخ لومړۍ پښتو ترجمه پښتنی دنیاته وړاندی کړه اود(هغه دغه، قصه خانۍ ګپ) په لیکلو یې د پښتو دنثر خوندیو په دوه زیات کړ. دقاضی میراحمدشاه شکرستان اوبهارستان هم دنوی نثر تاد وونه پاخه کړل. ددې وخت په کتابونو کښې دابن بتوته دسفر نامې اوتاریخ برامکه ترجمه یقیناً چه یوغوره کارګڼل کیږی په بره پښتو نخوا کښې دغه نوې ځلا دامیر شیر علیخان له زمانی څخه ښکاره شوه او دغه وخت ډیرعسکری اصطلاحات، قاعدې او فوځی نومونه په پښتو واو ښتل لکه غونډمشر، کنډ کمشر، دامیرعبدالرحمن په وخت کښې دهند دوا یسرای( سوال وځواب دولتی )نومی کتاب په پښتو هم چاپ شو.

دامیر حبیب الله خان په زمانه کښې پښتو یو تعلیمی اوسیاسی اهمیت وموند اود پښتو دپاره ځینی درسی کتابونه ولیکل شول. مګر دفکر دپراختیا او کتابونو دزیاتو الی له کبله دوهمه برخه ډیره مهمه ګڼل

کیږی. په دې برخه کښې د پښتو ژبې د برتګ لومړی سبب د افغانستان د خپلواکۍ بیا اخیستل دی. ولې چه له دغه وخت نه وروسته فکر او قلم هم څه ناڅه ازاد شوی او په خپل کاریې پیل کړی دی. نور سببونه یې د زمانې غوښتنې، مدنی اړتیاوې او داسې نور شیان دی په لړه پښتو نخوا کښې داد بی نهضت لوی سبب دانګریزانو د استعمار په مقابل کښې د اولس بیداری، د ازادۍ مجاهدې او دینی جذبه ده. په لړه او بړه پښتو نخوا د واړو کښې د نثر ډیر نوی کتابونه ولیکل شول او ډیر غښتلی لیکوال د پښتو نخوا په هسک وځلیدل.

د موضوعاتو د پراخۍ له مخه په کوزه پښتونخوا کښې اود ژبې د بنیاد ټینګولو د پاره په بړه پښتونخوا کښې ډیر کار شوی دی. د امیر امان الله خان په وخت په کابل کښې پښتو مرکه جوړه شوه د دغې مرکې مشر مولوی عبدالواسع کندهاری ؤ.

دې مرکې (دیو ازینې پښتو او پښتو ښوونې) په نامه دوه کتابونه د چاپ ډګر ته راوویستل د اعلیحضرت محمد نادر شاه په وخت کښې د پښتو دژوندانه یو نوی دور شروع شو او د پښتو دلوړ تیاد پاره پاڅه ګامونه واخیستې شول.

محمد ګل مومند په کندهار کښې د پښتو لومړی ادبی انجمن جوړ کړ چه دغه انجمن بیا کابل ته راغی او پښتو ټولنه ور ځنې جوړه شوه په دې عصر کښې د پښتو ډیر درسی کتابونه ولیکل شول او د افغانستان په ټولو ښوونځیو او لیسو کښې پښتو د تدریس ژبه وګرځیدله. ډیر پښتو اخبارونه او مجلې میدان ته راوو تلې او په دې ډول پښتو د یوې ملی ژبې په توګه د رسمیت په چوکاټ کښې ور ننو تله. د دې عصر د نثر په کتابونو کښې د محمد ګل مومند پښتو سیند، د عبد الحی

حبیبی د پښتو ادبیاتو تاریخ، دقیام الدین خادم نوی ژوندون، دګل پاچا الفت پښتو سندرې، ادبی بحثونه، دعبدالرؤف بینوا خوشحال څه وایی؟ او نور غوره کتابونه او دخوندور نثر مثالونه دی.

په کوزه پښتونخوا کښې هم دنثر پاخه استادان پیدا شول لکه: سید راحت زاخیلی، ماستر عبدالکریم، اجمل ختک، دوست محمد کامل، امیر حمزه شینواری او نور. دکوزې پښتونخوا په نثری کتابونو کښې دقاضی عطاء الله د پښتنو تاریخ، دماستر عبدالکریم ځولی ګلونه، دامیر حمزه ژوند، دصاحبزاده ادریس پیغله، دروغ لیونی بی بی نوره زیات شهرت لری او د پښتو دنثر غوره کتابونه ورته ویلای شو.

لنډه دا چه په او سنی دوره کښې د پښتو د نثر لمن له هر راز موضوعاتو څخه ډکه شوه او جغرافیه، کیمیا، ریاضی او نورې پوهنې پکښې راننو تلې.

ډرامې او ناولونه هم په دی دوره کښې منځ ته راووتل. ګرامری کتابونه، قاموسونه او دادب تاریخونه هم په دې وخت کښې ولیکل شول. له خارجی ژبو څخه زیاتې ترجمی هم وشوی.

او د پښتو دزده کړې درسی کتابونه جوړ شول.

ددې وخت یو مهم او غټ کار د پښتو دایرة المعارف خپرول دی لکه چه تر اوسه یې درې ټوکه چاپ شوی دی او د پښتو ژبې یوه لویه علمی پانګه ورته ویلای شو.

په دی وخت کښې د پښتو د نثر د آسانی، روانی او دلیک دوددسمون او یووالی خواته هم زیاته پاملرنه وشوه او پښتو نثر په هرځای کښې دلیکلو یوه شریکه لارو موندله او په دی ډول پښتو د دنیا په ژوندو ژبو کښې دشامل یدو حق پیدا کړ.

له کیڼی خوا : پوهاند رشتین ، ښاغلی شپون او ښاغلی میر حسین شاه

د ډېلی د ختیځ پېژندنې په شپږ ویشتم
کانګرس کښې د شپږ د خطابې پښتو لنډمتن

# د پښتو ولسي ادب ته بوه کتنه

A Study in Pashto Oral Literature

ګرانو او منورو پوهانو !

تاسو ته به ښکاره وي چه پښتو د افغانستان یوه داسې ژبه ده چه په مداوم ډول یې په رسمي محفلو او دربار کښې پوره رواج موندلی نه دی . نو دا ژبه تر ډیره حده یوه شفاهي (Spoken) ژبه پاتې ده یوازې ددې پېړۍ په سر کښې پښتو ته دا چانس په لاس ورغی چه رسمي او درباري ځایو ته لار وکړي .

نن پښتو په رسمي او ملي لحاظ د افغانستان له دوو ژبو څخه یوه مهمه ژبه ګڼله کیږي چه هغه بله یې پارسي ده .

پخوانو افغاني پاچاهانو د نورو هیوادو د پاچاهانو په شان له خپلې د ربارو څخه د پوهانو شاعرانو او فیلسوفانو یوه دایره راڅرخولې وه خو تاریخ په دغې دایرې کښې ډېر لږ د کوم پښتانه نوم اخلي . کوم پښتانه چه هلته وو هغو هم په فارسي لیکنې کړي دي او دا ځکه چه دا ژبه ددربارو عنعنوي ژبه وه .

همدا دلیل دی چه نظر فارسی ته نن زموږ ډیر لږ پښتو متون، قلمی نسخې، دیوانونه یا نور لیکل شوی اسناد لرو.

که دا په نظر کښې ونیسو چه د افغانستان د نفوسو یوه زیاته برخه په پښتو خبرې کوی نو دا اټکل کیدای شی چه دا ژبه باید د فارسی د لیکل شوی ادب په موازنه د شفاهی ادب لویه ذخیره ولری. دا اټکل واقعی دی. پښتو په اولسی او شفاهی ادب کښې هماغومره غنی ده. لکه پارسی چه په لیکل شوی ادب کښې ده.

لومړنی مؤثره او قیمتی هڅه چه د دی ذخیرې د راغونډولو د پاره شوی ده په ۱۸۸۸ ع کال کښې د فرانسوی عالم دارمستتر له خواده. نومړی پوهاند پنځه اتیا کاله د مخه د Chants Populaires l'es Afghans یعنی د پښتو عوامی سندرې په نامه یو کتاب ولیکه او په هغې کښې یې د کوهاټ او پیښور د علاقو پښتو سندرې راغونډې کړې. دارمستتر دا سندرې په پنځو برخو وویشلې په دې ډول:

مسره misra چار بیته Charbaita غزل Ghazal کیسه او متل Kesa et matal

د هغه وخت نه چه پخپله پښتانه د دې ذخیرې په موجودیت خبر شول څه کم وزیات دیرش کاله کیږی. زموږ منلی پوه ښاغلی حبیبی لومړنی پښتون پوهاند و چه د «طلوع افغان» په اخبار کښې یې د پښتو په عوامی ادب او فوکلور مقالې ولیکلې. وروسته نو بیا د محمد ګل نوری ملی هنداره په دوو ټوکو کښې چاپ شوه. وروسته نو پښتانه محققان د موادو ټولولو ته متوجه شول او په کال ۱۹۵۵ کښې د پښتو سندرو او ملی اشعارو مجموعه د (پښتنی سندرې) په نامه د پښتو ټولنې له خوا خپره شوه. وروسته له هغې نو په دې

موضوع ډيرې مقالې ليکل شوی او دا سندرې او اشعار د ډيرو پوهانو له خوا تشريح شوی دی . په دې را وروسته کلو نو کښې يو لړ انتخابي لنډۍ په انګليسي او فارسي هم ترجمه شوی دی او د نورو هيوادو پوهانو ورسره علاقه ښودلې ده .

د پښتو شفاهي ادب له ډيرو اړخونو شرح کيدای شي او موږ به دلته دا ادب د شکل له نظره په دوو برخو وويشو چه يو يې نظم دی او بل نثر .

نثر : شفاهي نثر عبارت له هغو کيسو څخه دی چه د خلکو په منځ کښې رواج لري او د موضوع له لحاظ په پنځو برخو ويشل کيدای شي (۱) عشقي کيسې (۲) رزمي او د اتلانو او پهلوانانو کيسې (۳) خندنۍ او دتو کو کيسې (۴) د ښاپيريو او نورو غير بشري موجوداتو کيسې (۵) دوليانو ، شهيدانو او زيارتونو کيسې .

(۱) او (۲) رديف د نثر اکثريت تشکيلوی تقريباً په هر پښتنی کلي او بانډه کښې داسې سړی شته چه په کيسو کښې مهارت لري او کسبي کيسه ويونکی وی . د ژمي په شپو کښې چه بزګران وزګار وی د کلي خلک په حجره يا ديره کښې را غونډيږي او دغسې کيسو ته غوږ ږدی . ددی دپاره چه اوريدونکی د کيسې سره لازياته مينه ښکاره کړی نو کيسه ويونکی د سندرې چاشنی هم ورسره ملګړی دا بدلې معمولاً درباب سره ويلی کيږي .

په پښتو کښې دوه ډوله کيسه ويونکی شته . يو هغه کسبي کيسه ويونکی دی چه يوه کلي ته ځی او خپلې کيسې د کلي خلکو ته اوروی او څوشپې وروسته بل کلي ته روان شی چه دا ډله د اوروپا bard يا minstrel ته ډيره ورته ده . بل ډول هغه کيسه ويونکی دی چه ديوه کلي

ثابت او ځایی استوګن وی او خپل شغل (چه به ترکانی وی یا به بزګری) هم کوی او دوزګارتیه ساعتونه د کیسو په ویلو تیروی .

د ملی هنداري دویم ټوک ددغسی کیسو یوه مجموعه ده . ددې لړ کیسو مشهورې د ظریف خان اوما بی ، ددلی اوشهو ، دادم خان او درخانی ، د قلندر ، میرا کیسې دی . له دغو کیسو څخه ځینی دومره اوږدې وی چه په یوه شپه او یوه ناسته نه خلاصیږی اودوه دری شپې غواړی .

نظم: د «پښتنی سندرې» دواړه ټوکه چه ما پاس یاد کړل شپږ ډوله اشعار لری دا انواع یا ډولونه یو له بل نه هم د شکل او هم د معنی او محتویاتو په لحاظ بیل دی .

دا شپږ نوعې په دوو برخو یا صنفونو ویشل کیدی شی ،

(۱) کمپوز شوی اشعار (۲) ازاد او بی کمپوزه اشعار .

کمپوز شوی اشعار :

د پښتو دملی اشعارو زیاتره برخه دهمدې کټه ګوری لاندې لاراتلای شی . ځکه اصلا دشفاهی اشعارو خاصه دا ده چه د بللو او غاړې دپاره ویل شوی او دهغې شاعر دهغې کمپوز هم کړی وی په ننګرهار کښې داعنعنه وه اواوس هم شته چه یوې سیمې به یو شاعر او کمپوزر درلود . یو مثال یې مشهور شاعر کمپوزر محمد نوردی چه ډیر شاګردان یې وروزل او په ودونو اومیلو کښې به په هسکه غاړه ددوی دحلقې په مرکز کښې ناست ؤ . د سازیانو یوه ډله به هم دده ملګرې وه او ده به په هماغه ساعت شعر جوړ اوه چه دسازیانو ډلې او نورو شاګردانو به ورسره غبر ګه کوله . ډار مستترسید کمال دد غسې شاعرانو له ډلې څخه ګڼی . سید کمال اوس هم د پښتو سندر

غاړوله خواد یوه منلی استاد په حیث پیژندل کیږی .

له هغو شپږ و نو عوا شعارو څخه چه موږ پخوا یاد کړل پنځه نوعې د کمپوز لرونکو اشعارو تر عنوان لاندې راځی . شپږمه نوعه چه لنډی ده او زماد مقالی اصلی موضوع تشکیلوی د آزاداو بی کمپوزه اشعارو په ردیف کښې راځی .خو پخواله د ې چه د کمپوز لرونکو اشعارو نمونې راوړم ګران اوریدونکی باید یوه بل ټکی ته هم متوجه کړم . د پنځو یاد شوو نوعو څخه هره نوعه په خپل نفس کښې ډیر فرقونه اوراز راز اشکال Variations لری . د یوې نوعې دوه نمونې په وزن ، قافیه ، آهنګ او تصنیف کښې سره جلا وی او یو از یني ورته والی یې چه په ځینو قاعدو کښې دی چه د یوې نوعې بیلې بیلې نمونې یې تعقیبوی او کله هم مشابهت یو از ې په سبک کښې وی . دا اختلاف او تبدل ضروری دی او که دا نه وی یو ډول پیکه توب او غیر طبیعی توب به په کښې راشی . خو دهرې نوعې بیلې نمونې د نورو انواعو له نمونو څخه په آسانه پیژندل کیدای شی .

او س به دا انواع په لنډ ډول وګورو

(۱) چار بیته :

که څه هم چار بیته په لفظی اعتبار په هغه نظم اطلاق کیږی چه څلور بیته ولری خود پښتو چار بیتې په څلو رو بیتو محدود دې نه وی . چار بیتې ته په پښتو کښې سندره هم ویل کیږی . چار بیته له بندونو Stanzas څخه جوړه شوی ده چه دټولو بندود بیتو شمیر او د بحر اوږ دوالی Metrical Length یو شانته دی . د هر بند قافیه بیله وی یواز ې د بیلو بیلو بند وآخرې مسری قافیه کښې سره یوشی وی یعنی د چار بیتې هر بند inrhymed وی .

دهر بند دقافیې ترتیب یا ۱۱ ، ب ب او یا اب ، ج ب وی یعنی یا لومړی مسره دد ویمې او دریمه مسره دخلرمې سره همقافیه وی او یا د و یمه مسره دخلورمې سره قافیه تړی . د بندود هر بیت مسرې به یا سره مساوی وی یا به یې لومړی تر دویمی اوږده وی چه په دې دوهم مو رد کښې دریمه او خلرمه دلومړی اودوهمې مسرې سره په اوږ د والی کښې برابره وی . دچار بیتی ویونکی معمو لا په اخر ی بند کښې خپل نوم هم یادوی .

چار بیته د بللو په وخت کښې اوریدونکی ته دفعالیت ا د چټکتیا احساس ورکوی . سندرغاړی یې په بیړه بولی اوسازی یوه ګړندی موسیقی ورسره ملګوی اود هغې په نتیجه کښې اوریدو نکی دیو ډول هیجان سره مخامخ کیږی . دچار بیتو موضوع زیا تره عشقی وی او کله کله جنګی هم وی . دادویمه موضوع دچار بیتې سره ډیره نښه لګیږی ځکه درزمی موسیقی اوسندرویوه نښه همدا بیړه اوچټکتیاده دچار بیتې فقرې meters اکثر جګیدونکی rising دی یعنی په هره فقره کښې لومړی بی خجه سیلاواوورسته خج لرو نکی سیلا و ر اځی .

اوس به دنمونې په توګه دیوې چار بیتی دوه بندونه تا سو ته در واورو م :

په سپینه خوله کښې د ې نشه رب دشر ا بو ا یښې
او بو له ځې ، په سر جوغه د ې د نوا بو ا یښـــی
په سپینه خوله کښې دې نشه ایښې د بنګو ده
دالباسی خنداد ې ټو له د بـــې ننګو د ه
بل په سینه کښې خوشبویی دې د لو نګو د ه
عاشقان و ژ نـــــې نن دې توره دقصا بوا یښې

بلـــي لمبې به د عاشق په زړګي پورې کړم
چـه نـاغـه داري ستر ګې زه په کجل پورې کړم
شينکي خالونه په جبين کښې لکه ستوري کړم
په تور ور بل کښې مې ګلونه د ګلا بو ايښي

(۲) غزل : غزل او تغزل په فارسي او عربي کښې هغو اشعارو ته ويل کيږي چه عشقي او بزمي وجه ولري . په پښتو کښې هم دا تلقي درسته ده . موږ په پښتو کښې هم عروضي غزلي لرو او هم ملي (له عروضي څخه زما مراد هغه غزلې دي چه د خليل ابن احمد د عروضو پيروي کوي) . ملي غزل هغې عشقي نظم دی چه له پنځو تر پنځلسو پورې بيتونه لري چه په هغې کښې قافيه په آ آ او ب ب اساس تړل کيږي او آ او ب مسرې معمولاً په اوږدوالي او دسيلا بو په شمير کښې سره مساوي وي . د ښيو ې تو کل او محمد نور (چه د واړه ننګرهاريان او د لغمان علاقې ته ور څرمه دي) د غزل استاذان بلل کيږي . کوز به د تو کل د غزل يوه نمونه وګورو :

زه چيچلي په زړه باندې د تازلفو منګر ويم
طبيبان خوشي خواري کاساه مې خيژي په نارويم
جلاتان راپسې ګرځي لور په لور ايستلي تو رې
وابه نه وړم ستا له دره زه مين ستا په آبرويم
لاس مې ونيسه په لاس کښې اې دلبره خدای دپاره
د بيلتون له لا سه خدا يږو په سپيرو خاور وايږ ويم
ساه مې نشه به بدن کښې تش کالبوت در پسې ګرځم
د هجران ظالم له لاسه حلال شوی په تير ويم
زه تو کل له غير و خلکو کنا ره نا ست يمه ژاړم
د ګناه پيټي مې دروند دی خپل مولا ته په زار ويم

لکه چه له پورتنی نمونې ښکاریږی دغزل غاړه او آهنګ روان او بهاند دی او فقرې یو په بل کښې ګډیږی .

(۳) رباعی :

غیر عروضی یاملی رباعی دشکل له نظره نیمګړی درې فقره یيز Trimeter Catalectic نظم دی .

لومړی فقره درې سیلاوه یيز، دوه بی خج ، یو خج وال Anapestic ده .

دویمه اودریمه فقره هره یوه درې بی خجه سیلاوونه لری چه یوخج وال سیلاوورپسې راځی . آخری فقره یوازې یو بی خجه سیلاودی .

دمسرو قافیه د آ آ، ب ا ، ج آ په حساب تړل کیږی. رباعی د اوریدونکی غوږ ته دعظمت اواخلاقی لوړتیا احساس ورکوی .

رباعی دانګلیسی ژبې (epigram) ته ورته دی ځکه داپې ګرام په څیرهم لنډوی اوهم هره مسره یوه له بلې سره په داسې ترتیب تړل کیږی چه یوه اخلاقی اوژوره متاع ترې جوړه شی .

معمولاً پښتنی سندرغاړی (په تیره دننګرهار دسیمې) سندره په رباعی شروع کوی. داکار دوې عملی ګټې لری . یوخوددې دپاره چه رباعی په ورواوشمیر لی لهجه ویله کیږی سندرغاړی خپل غږ اوغاړه دنورو ګړندیوسازو دپاره چمتو کوی اوهم اوریدونکی په تدریجی اوطبیعی ډول لهمذهبی اواخلاقی احساساتو څخه عشقی اورزمی احساساتو ته بیایی .

دپښتو اوفارسی رباعیاتو (لکه دخیام) دعنعنې ترمینځ یو ازینی ورته والی په موادو اومحتویاتو کښې پروت دی . یعنی ددواړو

مواد په لومړۍ درجه اخلاقيات او شاعرانه فلسفه دی په دواړو کښې دژوند فنا اودابديت هڅه ستايل کيږی .

خسرو اواحمد دين طالب دداسې شاعرانو په ډله کښې شميرل کيږی چه هغوی رباعی ته ډيره توجه لرله . «پښتنې سندرې» ددغو شاعرانو ډيرې نمونې راوړی دی .

دلته ـ دمثال په توګه يوه رباعی راوړم :

x x v

سړی بد/ښکاری دلاس/ په لګو/لو
سپينه خوله/ بده ښکاريږ/ی په ښکنځلـ/ـو
لکه چټکـ/ـی پښی مه/ نيسه اسمان/ ته
چټکی نه/دی داسمان/دټينګـو/لو
چرمښکی/ چه نيوی نشـ/ـی له لکۍ/نـه
ښامارا/ نو ته ورځی/بې دمولـ/ـو
چه اسو/نه نعلوی/ورسره ښا/يی
نو چو نګښه/ه چيرې ده/د نعلو/لو
ګه بور ا/په ګل کړيږ/ی ورته ښا/يی
نه کا رغه /چه وکړيږ/ی په سر وګلا/و
دا دنيا /دی طالب جا/نه داسې خوند /کا
لکه خوند /کاندی شبنم/په زيړو ګلا/و

(۴) بکتی يا لوبه :

بکتی د شکل له نظره يوډير قافيه ييز Multiple Rhymed نظم دی چه فقرې يې دوقفو (Cesura) په واسطه سره بيليږی . د هر ې فقری اخری سيلاومعمولا دهرې بلې فقرې داخيری سيلاوسره هم قافيه وی .

بکتی دډيرو وقفو دلرلو اودډيرو قافيودرعايت له کبله د پښتو د ملی

نظم یو نغښتی او مغلق شکل دی .

بګتۍ تر غزل او رباعی زغرده او ګړندۍ ویل کیږی او دا ګړندی توب د هر بند ( stanza ) په اخر کښې خپل نهایی حد ته رسیږی او په همدې وخت کښې د ډول په ګړند توب او د ږغ په اوچتوالی کښې هم ښکاره بدلون راځی . بګتۍ یوه له احساساتو ډکه لوبه ده او دیوه بند په اخر کښې دغږ او چتولو او د موسیقی له ګړندی کولو څخه د سند رغاړی مطلب دا وریدونکو دا حساسا تو پارول دی . بیلې بیلې بګتۍ د فقرو داوږدوالی او د سیلا و د شمیر له حیثه تو پیر لری . د بګتۍ موضوع معمولا مینه او ښکلاوی . اکثر بګتۍ پۍ مخی نجونی په داسې حالت کښې ترسیموی چه له کاله څخه د سیل د پاره یا په بهانه راوځی او په پښتنی ښایسته جامه کښې ځانونه ښکاروی او مینان وژنی . معمولا پیغله په ګودر یادیږی او داد پښتو داولسی شعر یوه خاصه ده چه په ګودر ډېر لګیږی او داسې ښکاری چه ګودر د پښتنو دژوند یوه نه جلا کیدونکی برخه ده .

د بګتۍ د هر بند بهترینه او تر ټولو اغیز ناکه مسره د بند اخر کښې تکراریږی . ځکه په بګتۍ کښې د قافیې رعایت زیات کیږی نو فقط یو استاد یی ویلونه زړه ښه کوی او د بګتۍ شاعر معمولا د ملی سندرونو رې ټولې مرحلې تیرې کړې وی . اوس به د بګتۍ دیوه بند مثال ورکړو .

دمازیګر او بی ته لاړه ـ ښه صراحی غندلی غاړه ـ مینه امن د سرغواړه
د سویلو ورپسی ډله د سپر وراځی ـ شوریی د ګونګر وراځی
شا په ټوپونو ځی په دانګه ـ دادلاچی لونګو څانګه ـ ورته د فکر
په ټال زانګه

داتورې زلفي دسينې په انارو راځي - شوريې دګونګړو راځي
داتورې زلفي يې سمسورې - ښه ګلالي عطر ورپورې
هم په کجلو سترګې تورې

بل د سروټيك يي دور بل په کنارو راځي - شوريي دګونګرو راځي

کيسه :

کيسه هم په پښتو کښې د نظم يو شکل دی . پښتو کيسه انګليسي ballad ته ورته ده او د هغې په شان له بندو څخه جوړه شوې ده . هر بند يا د مثنوي (Couplet) په ډول قافيه کيږي او يا د دوو مثنويو ترکيب وي چه هره مثنوي ځانله قافيه او فقره ييز او ږدوالي لري . په دويم مورد کښې د دويمې مثنوي لومړۍ مسره د لومړي مثنوي دوه چنده اوږده وي .

يعني که دويمه غبرګه کړو د فقرو شمير يې د لومړۍ مثنوي سره برابريږي . خو د دواړو ډولو کيسو ترمنځ فقره ييز تنظيم او برابروالي موجود وي . په لومړي ډول کښې لومړۍ فقره له يو بې خج يو خج وال او يو بې خج سيلاو څخه جوړيږي چه د انګليسي شعر د amphibrachic نظم سره سمون کوي دريمه ، دريمه او څلرمه فقره له دوو بې خجو يو خج وال او يو بې خج سيلاو څخه روغه ده . په دويم ډول مثنوي کښې د لومړي مثنوي هره مسره دوه فقره ييزه وي چه لومړۍ فقره amphibrachic او دويمه فقره له دوو بې خجو يو خج وال او يو بې سيلاو څخه روغه ده .

کيسې د محتوياتو له نظره په دوو ټولګيو ويشل کيږي (۱) د وليانو ، بزرګانو او فقيرانو کيسې (ب) عشقي کيسې .

د عيسي او جمجمه شاه کيسه په لومړي ټولګي کښې راځي او د جمالخان

کیسه (چه خپله نجل یې پریښوده او هند ته ولاړ) په دویم ټولګی کښې راځی . ددې دپاره چه موږ دلته ددواړو کیسو یوه یوه کامله نمونه نشو وړاندې کولی نوله هر ډول څخه به یو یو بند راوړو :

لومړۍ نمونه :

x v x

عیساو/یل اې ځوانه/ یوه پوښتنه/کړم له تانه/
داڅومره/موده کیږی/ دې مکان ته/ راغلې کله/
دې ځای کښې / پروت یی څله /

دوهمه نمونه :

x v x

✡ په ملك د/کندهار کښې/یو خوشرنګه/شاهزاده و/
نامه یې / جمالخان وه / په ښایست کښې/ازموده و/
یتیم د / پلاره پاتې / ښایسته و / ډیر بیشانه /
سرې سترګې / هسکه غاړه/مخ یې سپین و/ له افتابه /
د بل کلی یو خان و / نوم یې و محمد موسا
کاله کې / یوه لور وه / په نامه د/ زیب نسا/
ښایسته د / ګل غونچه وه / نوی ګل د /پسرلی/
خوشرویه /خنده رویه / سپین جبین یې /هلالی /

لنډۍ :

دپښتو داولسی اشعارو یوه مهمه او ښاغلې نوعه لنډۍ ده. لنډۍ په سبك، خوند او نظمی اصولو کښې له هرې بلې نوعې څخه بیله ده د لنډۍ ځینی ممیزه او بیلوونکی نښې په لاندې ډول دی :

۱ - دلنډیو زیاته برخه ښځو ویلې ده .

---

✡دا v علامه دخج وال سیلاو اودا x علامه : بی خج سیلاو ده .

۲ ـ دلنډيو اصلي او لومړني ويونکي ښکاره نه دي .

۳ ـ لنډۍ په هغو اشعارو کښې راځي چه ځانله کمپوز نه لري او د يو آزاد او بې کمپوزه شعر په حيث خلکو ته يادې وي . په دې برخه کښې لنډۍ له پنځو نورو نو عوڅخه بيله ده ځکه د هغو پنځو نوعو هره نمونه ځانله کمپوز او غاړه لري .

ددغو تو پيرو په ملاحظه به موږ کو ښښ وکړو چه لنډيو ته يو تعريف وضع کړو : لنډۍ يو نيمګړی فقره ييز ، دوه مسره ييز ، نظم دی چه ا او ب مسرې ، نه په قافيه کښې يوشي وي او نه په وزن کښې برابرې وي .

دا تعريف عجيب غوندې ښکاري ځکه دا پوښتنه کيږي چه که دلنډۍ دواړه مسرې نه په وزن کښې سره برابرې وي او نه يې قافيه سره غبر ګيږي نو څه اصول تعقيبوي خو ددې پوښتنې ځواب اسان دی خو پخوا تر دې چه موږ لنډۍ معرفي کړو او د دې پوښتنې ځواب ووايو د لنډيو دوه نمونې وړاندې کوو :

لومړۍ مسره : د نيمو شپو پورې رانغلې

دويمه مسره : سکر و ټې مړې شوې اوس ايرو ته نا سته يمه

په لاتيني رسم الخط : De nimò shpò pòre ranəghle,

Skarwate mrre shwe òs eró ta nasta yəma.

لومړی مسره : اشنا په ټوکونه پوهيږي

دويمه مسره : ماپه خور وزلفو واهه مرور شونه

په لاتيني رسم الخط : Ashna pə tókó nə póhegi,

Ma pə Khwaró Zəlfó Wahə Mərawar Shəna.

په دغو دواړو لنډيو کښې سړی دوه ډوله ورته والی ليدلی شي :

دلومړی لنډی لومړی مسره دفقره ییزاوږدوالی له نظره د دویمې لنډی د لومړی مسرې سره برابره ده او همداسې دلومړنی لنډی دویمه مسره ددویمې لنډی د دویمې مسرې سره برابره ده .

دلومړنی لنډی ددویمې مسرې اخری سیلاوددویمې لنډی ددویمې مسرې داخری سیلاو سره قافیه تړی ځکه چه دواړه په ( a )ختمیږی نوموږ ویلی شو چه دیوې لنډی دواړه مسرې یوه له بلې سره قافیه نه تړې خود ټولو لنډیو دویمې مسرې سره همقافیه دی .

د ا لاندنی لوا حق او وروستاړی په لنډی کښې راځي: ینه (ina) لکه په کوینه Kawina کښې، امه əma لکه په کومه Kawəma کښې، ونه wəna لکه په کاونه Kawəna کښې، اونه óóna لکه په لاسونه Lasóóna کښې .

که څه هم لو یومه او کوینه هم دږ غیز او هم بې ږغه تور و په لحاظ سره بیل دی خو بیا هم سره همقافیه بلل کیږی او داسې طبیعې تلقی کیږی لکه ځینه او خورینه دا(a)چه په اخری سیلاو پورې تړل کیږی یوازې قافیې په غرض وی او دهغه لغت معنی چه دا a ورپورې نښلی نه بدلوی. هغه بې غږه توری چه دا a ورپورې نښلی م (m) وی، یا ـ ن (n) یوازې په دوو حالتو کښې د a سره د وروستنی سیلا و په معنی کښې لږ بدلون راځی . لومړی داچه اسم ته ندایی حالت ورکوی لکه (مین) چه مینه (یعنی اې مینه ) کیږی . دویم داچه مفرد ته د جمعی صیغه ورکوی لکه ( زړه ) چه (زړو نه ) او(ګل ) ( ګلونه) کیږی .

په نورو مواردو کښې دا a یوازې د قافیې د رعایت دپاره راځی او د ور پورې تړل شوی لغت په معنا کښې نه زیاتی راولی نه کمی . لکه (ځی) چه (ځینه)شي او (کوی) کوینه کیږي . په هغو مواردو کښې چه a وروسته ترم(m) راځی هیڅ بدلون په معنا کښې نه لیدل کیږی .

لکه ځم چه ځمه کیږی او دهماغه ځم معنی ورکوی. دامه اونه معمولا دافعالو پسی تړل کیږی یعنی د لنډی د دویمی مسری اخری سیلاو معمولا فعل وی اودا طبیعی ده ځکه په پښتو نحو کښی فعل تل دجملې په پای کښی راځی

اوس به لنډی تقطیع کړو:

لومړی مسره نیمګړی دوه فقره ییزه dimetre catalectic ده لومړی فقره درې بې خج یو خجوال سیلاوده. دویمه فقره هم دلومړی په شان درې بی خج یو خجوال سیلاوده. اخری نیمګړې فقره یو بی خجه سیلاودی. دویمه مسره نیمګړی ـ درې فقره ییزه trimetre catalectic ده لومړی، دویمه او دریمه فقره هره یوه له درو بې خجو او یو خجوال سیلاو څخه روغه ده او په اخر کښې نیمګړې فقره چه یو بې خجه سیلاودی راځی.

نو موږ ګو روچه لنډی د پنځو سره ورته فقرو او دو وبې خجه سیلاوو څخه جوړه ده. داهم ښکاره شوه چه دویمه مسره تر لومړی مسرې یوازې یوه فقره زیاته لری. هره فقره څلور سیلاوه لری.

نو لومړی مسره: ۳/ بی خج + ۱ خجوال/ ۳ بی خج ۱ خجوال/ ۱ بی خج

دویمه مسره: ۳/ بی خج + ۱ خجوال/ ۳ بی خج + ۱ خجوال/ ۳ بی خج + ۱ خجوال/ ۱ بی خج

اوس به دا په یوې لنډی کښې عملی کړو:

دلو یو غرو کجیریې مړ کړ

دکمو غرو کجیره خدای به دې ساتینه

دلو یو غرو x x x v

کجیریې مړ x x x v

کړ x

دکمو غرو x x x v
کجیر ه خدای x x x v
به دې ساتی x x x v
نه x

یوه فقره به دمثال دپاره داسې تقطیع کړو:

(د) بې خجه سیلاو
(لو) بې خجه سیلاو
(یو) بې خجه سیلاو
(غرو) خج وال سیلاو

نورې پنځه فقرې ټولې په همدې ډول تقطیع کیدای شی او دا تقطیع په ټولو لنډیو او دهرې لنډۍ په هرې فقرې صدق کوی. خو تر اوسه چه چا (خارجی عالم یا داخلی محقق) ترسیم کړی هغوی صرف دومره ویل چه دلنډۍ یوه مسره ۹ سیلاوه لری او بله ۱۳.

داترسیم او معرفی ناقصه ده. ځکه چه دپخوانی تعریف په اساس باید،

مړې کړ دلویو غرو کجیر
خدای به دې دکمو غرو کجیره ساتینه

هم لنډۍ وی ځکه هم یې دسیلاوو شمیر ۹ او ۱۳ دی او هم یې قافیه درسته ده. خوز موږ د او سنۍ تقطیع اساس داسې دې چه غیرله لنډۍ هیڅ شی په کښې نشی داخلیدای.

زما په خیال دلنډۍ دوزم پوهنې په باب کښې همدا توضیح کافی ده اوس به یې محتو یا توته راوګرځو.

لکه چه پخوامو وویل دلنډۍ یوعجیب شانته خصوصیت دا دی چه اکثر دپښتنې ښځې له زړه راوځی او د ښځکلۍ احساسات

څرګند وی. په فارسي او پښتو لیکل شوواد بیا تو کښې ډیرې شاعرانې شته چه آثاریې موږ ته رارسیدلی دی خو دومره ده چه دا میرمنې اکثر ځانونه هیروی او د نارینه واحساسات څرګندوی په بل عبارت له ځانه نارینه جوړ وی. د دوی او د نارینه شاعرانو د ښکلا خوښونې د فلسفې ترمنځ هیڅ توپیر نه لیدل کیږی.

دا دیوان لرونکې شاعرانې معمولا سرې شونډې، نری ملا او اوږدې څڼې داسې ستایی لکه چه دوی نارینه وی او واقعاً د دغوشیانو تنده لری. خو لنډی ښکلا او عشق ته د ښځې په سترګو ګوری او هیڅکله زیار نه باسی چه له ښځنی احساساتو او عواطفو سترګې پټې کړی (البته هغه لنډی چه نارینه و، بللی له دې قاعدې مستثنی دی).

«په پښتنی سندرې» کښې څه زیات وکم ۷۳۰۰ لنډی راغلی دی او د پښتو ټولنې د اعلان په ځواب کښې اوس هم لنډی غونډیږی او یو لړ لنډی په منظم ډول د زیری په اونۍ اخبار کښې خپریږی یعنی موږ نشو ویلی چه په پښتو کښې ټولې څوزره لنډی دی او امید دی چه په راتلونکی کښې به یوه بله مجموعه هم خپره شی او د هغې له مخې به د ښځو فیصدی برخه څه نه څه څرګنده شی.

هره لنډی ځانله یو دایره وی او سر تړلی زنځیر Closed Chain دی چه هیڅ سریې د بلی لنډی پورې نه دی تړل شوی یعنی هره لنډی په لومړی مسره شروع او په دویمه مسره پای ته رسیږی. یو ښکلی مطلب په لنډ ډول په کښې افاده کیږی چه په دې خصوصیت کښې یو ازې د بلې ژبې شعر چه لږ لږ ورته والی ورسره لری جاپانی شعر دی چه هیکو haiku یې بولی. (البته هغه جاپانی پوهان چه د لته په کانګرس کښې موجود دی د هیکو پیژنی او پوهیږی چه هغه هم

لکه لنډۍ دڅو سیلاوه ییزو فقرو څخه جوړ یږی چه یو ښکلی مطلب افاده کوی او دبل هیکو سره ارتباط نه لری.)

لنډۍ دیوې بشپړې ګرامری جملې په شان مبتدا او خبر لری او معمولا دوه ګرامری فقرې (Clauses) لری چه نیمګړې فقره dependent Clause یې په دویمه مسره کښې او تامه فقره independent Clause یې په لومړۍ مسره کښې راځی خو په ځینو او البته لږو مواردو کښې بالعکس وی. مثال به یی په دغو لاندنیو لنډیو کښې وګورو:

معمولی شکل: په تور ټوپك ویشتلی راشې (تامه فقره)
چه پرهارونه دې ګنډم خوله در کومه (نیمګړې فقره)

نادر شکل: که په میوند کښې شهید نه شوې (نیمګړې فقره)
خدایږو لالیه بې ننګۍ له دې ساتینه (تامه فقره)

له کمو زیاتو لس زره لنډیو چه په چاپ شوی او ناچاپ شوی ډول موږ ته رارسیدلی دی هیڅ داسې دوه لنډۍ نشته چه حتماً دې یوه په بلې پسی راشی البته دموضوع دیو والی په رعایت ډیر کله یو لړ عشقی لنډۍ چه مثلا ټول ګودر یاد وی یوه په بله پسې بلل کیږی، خو داسې نه ده چه دګودر یوه لنډۍ دې دیوې بلې لنډۍ معنی ورپوره کړی. په بل عبارت دیوې (a) لنډۍ بلل د (b) لنډۍ بلل نه حتمی کوی او کید ای شی چه دهغی په ځای (c) لنډۍ وبلله شی. ښایی ددې دلیل به د اوی چه هیڅکله یو لړ لنډۍ داول ځل د پاره یوه وخت کښې نه وې جوړې شوی او نه لکه پییل شوی هار او ډل شوی وی. البته داسې لنډۍ شته چه دافغانستان او پښتونستان په بیلو بیلو منطقو کښې ورته موسیقی آهنګونه او کمپوزونه یا غاړې جوړې شوې دی لکه تیرایی غاړه، کاکړی غاړه، ور دګی غاړه او داسې نور خود تیرایی لنډیو

وردګی لنډیو په نامه کوم شی نه لرو. په بله ژبه دلنډیو تخلیق دټولی پښتو نخوادی او تصنیف یا کمپوزیې محلی او منطقوی رنګ لرلی شی او داځکه چه پښتو لنډۍ لکه په خپله پښتانه داسې ګرځنده او کوچانی طبیعت لری او چه په یوه منطقه کښې جوړه شی نو یرژر د پښتو نخوا بلې منطقې ته ولیږ دی او په دې برخه کښې باید وو ایو چه هغه پښتانه کوچیان چه ژمی په کښتو او ګرمو سیمو کښې تیروی له بیلو بیلو ځایو څخه په دوبی مخ په ایلبند واومشتر کوور شوګانو روان شی او هلته په لویو کوچانو بازارو کښې لکه (دغور دابل بازار) نه یوازی دمالو راکړه ورکړه کوی بلکه کلتوری تبادله هم واقع کیږی.

داسې ښکاری چه په پښتو اشعارو کښې لنډۍ ترټولو اصیل اولرغونی شکل دی. که څه هم موږ د لنډیو د تاریخی مشوړې سرپه یقینی ډول نشو معلو مولای خو بیا هم ځینی محققان او په دې ترڅ کښې د «پښتنې سندرې» مدون په دې عقیده دی چه لنډۍ د شکل او محتویا تو له نظره پخوانو ویدی سرودته ورته دی او د اریایی قبیلو د سپیڅلو او ساده اشعارو زیږنده دی خو ځکه چه ما پخپله په دغه برخه کښې کومه مقایسوی څیړنه نه ده کړې او نه پښتنو محققانو ددې ورته والی مثالو نه او شواهد په مجسم ډول راوړی دی نو د اتاریخی جنبه یې نورو همزولو ته پریږدم او دلته په دې باب همد ومره وایم چه ما په دې لنډیو کښې د داسې ځای او یا واقعې ذکر پیدا نه کړای شو چه هغه دې تر اسلام د مخه د لنډیو موجودیت ته اشاره وکړی. البته تر اسلام وروسته ډیره لرغونه لنډۍ چه ما له استاد حبیبی څخه واوریده او په «پښتنې سندرې» کښې هم راغلې ده داده:

چه د خالو لښکرې راغلی
زه به ګومل ته دخپل یار لیدن له ځمه

دحبیبی دتحقیق په استناد داملك خالو د محمود په لښکرو کښې یوقوما ندانؤ اودده سره به یې دهند په فتوحاتو کښې برخه اخیستله نو دالنډۍ دیوې داسې نجلۍ له خواویلی شوې چه غالباً به یې یارد ملك خالو په لښکرو کښې هند ته تللی و. ددې سند په اعتبار لنډۍ زرکاله پخو اهم موجو ده وه.

لنډۍ دپنځو نورو نوعو اولسی اشعارو په عکس په عروضی اوغیر عروضی شکلو نشی ویشل کیدای. یوازې یوډول لنډۍ موجودې دی اوهغه غیرعروضی دی.

نه په فارسی کښې دلنډیو انډول شته او نه په په عربی کښې.

لنډۍ دمحتویاتو له نظره په حیرانو ونکی توګه محلی رنګ لری او دښکلا ارز ښتونه یې دطبیعت اوټولنې په واقع بینانه مشاهده بنا دی.

مونږ کولی شو لنډۍ دمحتویاتو له نظره په دوو رزمی اوبزمې څانګو وویشو خوزه دا ښه ګڼم چه په پنځو برخو وویشله شی:

۱ـ داجتماعی ویرجنو پیښو لنډۍ.

۲ـ دښکلا اومینې لنډۍ.

۳ـ دملی احساساتو دپارولو یاد بری دستایلو لنډۍ.

۴ـ دطبیعت دترسیم اوطبیعی پیښود بیانولو لنډۍ.

۵ـ هغه لنډۍ چه فراق، کوچ اولیږد اود پښتنو کوچانی طبیعت ښیی.

۱ـ اجتماعی ویرجنې پېښې

په هغو اجتماعی پېښو کښې چه په ټولنو کښې پېښیږی داسې پېښی هم وی چه دټولنې کرکه ورته پاریږی اوهغه دټولو یا اکثریت له خوا یو آفت انګیرل کیږی. داپېښې معمولا داجتماعی بی عدالتۍ زیږنده

وي چه يا به دا بې عدالتي په خپله د کولتور جزء وي يا به د باندې له خواور باندې تپل شوي وي. حقيقي او اولسي هنر او ادب تل دا بحراني پېښې را برسيره کوي او يو وفادار او رښتوني شاعر هېڅکله دا پېښې نشي هير ولي. يو لړ داسي لنډۍ لر وچه داو يرجنې پېښې او افتونه ترسيموي او له دې لنډيو هغه اهميت هم ښکاري چه پښتانه يې يوې موضوع ته ور کوي. د مثال د پاره به د ميمونې مړينه د داسي يوې پېښې د نمونې په توګه ياده کړو. د ميمونې وژنه د اولسي ادب په راز راز نوعو کښې ځان ښکاره کوي او دلته دا مثال ځکه په لنډۍ کښې ګورو چه په عين حال کښې د دوو اجتماعي سيستمو (اسلامي کولتور- پښتنولي) تو پير هم ښيي او هغه رنګونه هم ښيي چه په خپله د پښتنو په کولتور کښې موجود دي.

د ميمونې کيسه به په څو کرښو کښې داسې را لنډه کړو: ميمونه د باجوړ (شمالي پښتونستان) د ناوه ګۍ د يوه شيرعالم نومي ښځه وه. دې شيرعالم بله ښځه هم لرله هغه بله طبعاً د ميمونې سره ورانه وه او د کسات د پاره يې خپل وار ته کتل. يوه ورځ د شير عالم يو خپلوان د چلم څکو لو د پاره د شيرعالم کور ته راغی او له ميمونې څخه يې تماکو وغوښتل- ميمونې د تماکو کڅوړه چه په خپل لاس يې ګلان ور باندې په وريښمو ګنډلي وو ميلمه ته ور کړه. کله چه هغې بلې ښځې شيرعالم ته خبر ور کړ شيرعالم يو سهار ميمونه دواده په بانه له کلي نه د باندې بوتله او حلاله يې کړه.

د دې ظلم په ضد د پښتنو شاعرانو او ازجګ شو او د ميمونې ويرتر او سه سوړ شوي نه دي: د داسې لنډيو دوه مثالونه به لاندې د نمونې په توګه راوړو.

خاوند دې خوار که شیر عالمه  د تما کو په پاڼو چا کړی مرګو نه
میمو نه شنه شوه په خنداشوه  دا کازوی دی ما به نه حلالو ینه

۲) مینه او ښکلا: لکه چه پخوا مو ویلی دی د لنډیو د زیاتې برخې افتخار پښتنو ښځو ته رسیږی. نو دا طبیعی خبره ده چه زموږ اکثر عشقی لنډۍ د ښځو له خوا بلل شوی دی. لاندې لنډۍ یوه پښتنه په خپل ټول سینګار او ښکلا ترسیموی او کله لاد یوه پښتون ځوان په مقابل کښې دد وی زاری او چیغې ښیی. د ګودر د غاړې پټه معاشقه او غلچکی دیدار په کښې منعکس کوی لکه دا لنډۍ:

لاس په مړوند کله پټیږی
بی غوره یاره سلامی ولاړه یمه
دلو نګین په لړ را خیژه
په پیزوان شپه کړه له چارګل واخله خرڅو نه
وطن یی ټول په رڼا واخیست
چه د سرو ټیک می پاس ور بل ته خیژو نه
او س به دې یو موټی ایرې کړم
که خماری سترګې یو ځل درو اړومه
له دې وطنه به دې ورک کم
زه په یو نیم سلا یی سترګې تورومه
زه چه وړه وم لیونی وم
د سپینی خولې له قدره اوس خبره شومه.

۳/ زمی لنډۍ: لکه چه هر سړی پوهیږی د افغانستان د تاریخ پاڼې تل په جنګو نو او ویرو نو سره لړلې دی. له همدې کبله اکثر خارجیان په تیره غربیان چه کله افغان وایی مرادیی یو ږیر ور، پټکی په سر

یرغلگر جنگیالی انسان دی چه تل وسله دځان سره ګرځوی . خو دیو واقع بینانه تاریخ له لوستلو وروسته سړی پوهیږی چه هغه حملی چه په افغانانو شوې دی دهغو یرغلو په نسبت چه افغانانو په نورو کړې دی ډیرې زیاتې وحشیانه دی . له ستر سکندر څخه نیولې تر چنگیز او بیا له ګوډ تیمور څخه تر نادرشاه افشار پورې افغانستان د نورو دیرغل سیمه وه هر شهنشاه او ژنرال اول وار په افغانستان یرغل کړی دی له هغې وروسته افغانستان د انګلسانو له خوا لتاړیږی او بیا مقابلی ته مجبور یږی .

دې محار بو او دې جګړو افغانان د تجربې په ډول دې نتیجې ته ورسول چه که آزاد ژوند غواړی باید دو سلې په زوریی وګټی نو همدغه وجه ده چه جنګ د پښتنو په ژوند کښې د یوه ترخه او په عین حال کښې لازمی فکټور او جزء په حیث داخل شو . دغو جنګو طبعاً په اولسی ادب او ددې په ترڅ کښې په پښتو لنډۍ کښې انعکاس کړی دی یو مثال یی د میوند جګړه ده چه د افغانانو او برتانیې د لښکرو ترمنځ وشوه یوه لنډۍ د مثال د پاره راوړ وو :

که په میوند کښې شهید نه شوې
خدایږ ولا لیه بی ننګۍ له دې ساتینه
د هندوستان پرنګۍ ژاړی
که ژیړ ایوب په دنیاؤ کونډې به شونه

د افغانانو یوه بله ملی مجاهده د پښتونستان د آزادولو شکل دی او په دې مور د کښې هم یوه لنډۍ شته چه له هغې دا حقیقت ښکاری چه اوس هم لنډۍ جوړ یږی . یا په بل عبارت لنډۍ د ځینو شرایطو زیږنده ده او چه شرایط تیارشی لنډۍ په خپله رازر غونیږی .

که له ځلمونه پوره نه شوه
پښتونستانه جنګۍ به دې ګټینه

۴-د طبیعت ستاینه: که دا تلس په مخ د افغانستان نقشی ته یو نظر واچول شی سړی ګوری چه افغانستان یو غرنی هیواد دی. له یوه راکټ نه به افغانستان یوه داسی پراخه جګه سیمه ښکاره شی چه د غرونو موړې لکه رسۍ ګانی یو په بل تېرې راتېرې دی او هلته دلته د کلو او شنو ځنګلو شنه شنه خالونه د غرونو دالړۍ پرې کوی. دا کلی په هغه ځای کښې جوړیږی چه یو څه کرونده هواره مځکه اولږې او به موجودې وی دا کلی او دا کرونده مځکې دومره محدودې اولږې دی چه نژدې ده چه هیڅ په حساب کښې رانه شی. یعنی د هیواد د ټولې مساحی په سلو کښې ایله پنځه کرونده مځکه وی. پاتې پنځه نوی برخې ټولې شاړې د ښتی او غرونه ډاګونه دی.

سره له دغو دومره انکشافی او عمرانی پلانو چه مونږ یې لرو لا هم طبیعت د افغانستان مطلق حاکم دی او همدغه طبیعت دی چه د افغانانو په ژوند واک لری او د دوی د ژوند بڼه ټاکی. یعنی موږ لا طبیعت نه دی رام کړی. دلته جګ غرونه او پراخ وچ ډاګونه مېشته ځایونه سره بېلوی او د افغانستان ښارونه او مېشته ځایونه داسې یو له بله جلا کوی لکه د جاپان ټاپوګان.

لنډۍ د انسان رابطه له دې غرونو او راغونو سره ښیی. په ټولو هغو لنډیو کښې چه «د پښتنې سندرې» راوړی دی، ما زر لنډۍ وشمیرلی چه یا یې طبیعت ستایلی دی او یا یې د پښتنو په ژوند باندې د هغې اغیزې ښودلی او د دغو اغیز و ترسیوری لاندې یې د پښتنو د ژوند او کلتور بېل بېل اړخونه را بر سیره کړی دی. د غرومینه له دې لنډۍ څخه ښه ښکاری:

په لو یو غرود خدای نظر دی
په سر یې واورې په لمن زیړی ګلونه

کله چه یو د پښتنو خان خپل تر بور خان د پرنګی په جګړه کښې وژل شوی ګو ری نو په داسې عجز چه کلکه ارا ده هم تري ښکاری وایي:

دلو یو غرو کجیر یې مړ کړ
د کمو غرو کجیره خدای به دې ساتینه

۳- د بیلتون او مساپرۍ (غریبۍ) ژړا: د طبیعی منابعو نشتوالی او د مالداری شغل پښتنو ته کوچیانی او خوځنده طبیعت ورکړی دی. پښتانه کوچیان په دوبی مرکزی او شمالی افغانستان ته لیږ دی او په ژمی د ختیځ او جنوبی افغانستان او د پښتو نستان سیمو ته لښی. دمیشتو او استوګنو پښتنو یوه برخه هم تل لکه سیماب خوځنده ده. مثلا د جنوبی افغانستان میشت او ځایی پښتانه هم پخوا د هند او پاکستان ترویشه په ژمی د پښتو نستان او سنی پاکستان او حتی او سنی هند ته مساپریدل او هلته په خواری او غریبۍ پسی ګرځیدل. د رابندرانات ټاګور کابلی والا Kabuli Wala د دې ډول پښتنو یوه ښه نمونه ده. په داسې موار دو کښې به دوی خپلی کورنۍ ترشا پریښودې او اکثر لیدل شوی چه یو پښتون به ناڅاپی له کلی ورک شو او څو کاله پس به یا خپله د هندو بار نه راغی او یا به یې چا وطند ار احوال را وړ. کله کله به دا پښتانه په هند کښې د ښتو خاوندان شول خو اکثره برخه به یې تش لاسونه بیرته راغلل. کله به چه د وی بیرته راغلل نو به یې د هند د لیدنو او سرګذشتو کیسې کولې او د هغه ځای نه به یې د ښا پیرو ښار جوړ کړ.

د دې بیلتون او هجران د ویر چیغی هم په لنډۍ یو کښې انعکاس کړی دی.

د هندوستان ګټه دې زهر شه
زما په تور وربل کی سپین ولګیدنه

زما و ستا تر منځ شول غر ونه
سپنې سپوږمۍ ته سلام کړه سلام به کمه
نن مې دیار دراتلو ږغ دی
په سترګو ځم په بڼو لیار جارو کومه
مسا پرې دې ډیره وکړه
خدای دې سبب په خپل وطن وکه مینه
مسا پرۍ ته دې ځان جوړ کړ
چاړه را وا خله ما حلا له کړه مینه
بیلتانه وسوم غم ایرې کړم
خو ښه دباد ده چه مې هرې خواته وړینه

ګرانو او عزتمنو پوهانو: په دې ترتیب ما په اجمالی صورت پښتنی اولسی ادب او په خصوصی صورت لنډۍ په ناقص ډول معرفی کړې امیددی چه دختیځ پیژندونکو دلچسپی مې ورته راپا رولی وی او ضمنا مې نور افغانی همزولی ددې موضوع اهمیت ته ملتفت کړی وی.

له کیني خوا : پوهاند رشتین ، شاغلی شپون اوموسیورادار

د ښاغلی میر حسین شاه د کنفرانس
یوه برخه چه د نړۍ په ۲۶ بین المللی
کانګرس کښې ویل شوی دی.

# خلاصة المریدین

دنو لسمی عیسوی پیړۍ په سر کښې داوسنی کندهار په ښار کښې یو فاضل صوفی شاعر ژوند کاوه چه شمس الدین کاکړ نو میده. دده ژوند په سمه توګه نه دی معلوم دیو شعر له مخی چه دده په دیوان کښې راغلی دی معلومیږی چه دی د کندهار په قلیج آباد (اوسنی کلچا آباد) کښې پیدا شوی دی (۱) ددغه بیت څخه معلومیږی چه ده په کندهار کښې ښه ژوند نه درلود. ژوند هم هغه وخت په کندهار کښې ښه نه شوای پاتی کیدای (۲) ځکه چه داوخت دابد الی تیمور شاه د مرګ زمانه وه پس له تیمور شاه په افغانستان کښې ناوړې پیښې شوی،

---

۱ـ لکه لعل په ایرو کښې دی بی قدره  هسی پروت دی شمس الدین په قلیج اباد
صدیق الله رشتین: پښتانه شعرا ج /۲/ کابل ۱۸۴۲ ص ۰۴۸۰ د شمس الدین کاکړ دیوان پښتو ټولنه /کابل /۱۹۵۴ ص ۰۲۲ ـ

۲ـ هیڅ محل دخوښی نه دی دا دیار  ځکه وهم له دی دیاره درد دیار
خوشحالی په کښې ممکنه نه ده چه ئی څوك کا  ځای دغم و اندوه دی کندهار

حکو متونو ثبات نه‌درلود شهزادگان دجانشینۍ دپاره یو تر بله سره جنگیدل. دې‌دسیسو او جګړو تقریباً پنځه‌ویشت کاله دوام درلود اوددې پیښو په‌اثر د افغانستان امپراطوری تجزیه کیده (۱) د تیمور ترمرګه ددرانو امپراطوری که‌څه‌هم ضعیفه شوی‌وه بیا هم کشمیر لاهور ملتان په‌پیښور کښم او اوسنی ټول افغانستان ئی تر فرمان لاندی ؤزمونږ متصوف شاعر چه‌له‌دې ناوړه ژونده متاثر شوی ؤ له کندهار ووت‌اود کشمیر پرلور روان شو. (۲).

په کشمیر کښی دی دمحمد اعظم‌خان سره اشناشو. او دده په‌دربار کښی اوسیده (۳) محمد اعظم خان پس له دې چه کشمیر دده ورور فتح محمدخان‌فتح کړ په‌هغه ځای کښی حکومت درلود. شمس‌الدین څووخته‌له‌ده سره پاتی‌شو پنجاب ئی هم‌ولیداوور وسته‌له‌ډیر وسفرونو بیرته کندهارته راغی (۴) داوار په ښار کښی پاتی نه‌شو بلکه د خپلی استوګنې‌دپاره یی کشك نخو دغوره کړ/ خلاصه المریدین داد بیاتو دپوهنځی نسخه ق-۲- .....!

دشاعر دژوند پاتی برخه بیانه‌ده ښکاره‌موتږه نه‌پوهیږ وچه دی ترڅه وخته ژوندی ؤاو چیری مړشو. خودومره معلومیږی ترسپین ږیرتو به‌رسیدلی دی څو بیته‌دده په‌دیوان کښی دده پرزوړ والی باندې

---

۱ـ فریزر تاتیر/ افغانستان / لندن /۱۹۵۳وص۰٦۷ دشمس‌الدین دیوان مخ

۲ـ چه دلګیر دهندیر لورزه شمس‌الدین ځم ګیله من دکندهار نه‌یم نوڅه‌یم.

۳ـ دمحمد اعظم خان په مدح کی یوه ډیره لوړه قصیده دده په دیوان کښی شته په دې‌قصیده کښی دی دژوندانه‌او دخپل عصرڅخه شکایت لری (دیوان مخ /٤۳)

٤ـ کندهار چه داستوګی ځای نه دی- باری څه کړم په زیارت دپلار او مورځم په نصیب به می دیدن له باره کیږی شمس الدین چه اوس له شهر دلاهور ځم

دلالت کوی (۱) اوډیر احتمال لری چه دی خپل وطن ته له بیر ته راتګ څخه وروسته په کشکی نخو د کښی وفات اوهم هلته ښخ شوی وی .

تر اوسه دده داثار وڅخه غیر له یو شعری دیوان اویوی فقیهی رسالې چه سراج الموتی نومیږی موږ ته نور معلوم نه وو (۲). څو وخته پخوا چه مونږه داد بیاتو د پوهنځی د پاره خطی نسخی راټولولی دده یو بل اثر کشف شو. دایوه تصوفی رساله ده چه زمونږ متصوف شاعر اوپوهاند دخلاصة المریدین په نامه تالیف کړی ده .

خلاصة المریدین یو کوچنی کتاب دی چه د پاڼو شمیر ئی څلویښتو رسیږی داکتاب پر آبی رنګ انګلیسی کاغذ باندی لیکل شوی دی

---

۱ـ مینی هسی رنګ محتاج زه شمس الدین کړم ـ سپینه ږیره وهلك ته بابا وایم
دیوان ۸۵ مخ

له پیری که می غاښ یو نشته په خوله کښی ـ تل پر وقت دسحر ستوری شی پنهان
دیوان ۸۸ مخ

۲ـ صدیق الله رښتین پښتانه شعرا/ کابل/ ۱۹۴۲. ص ۴۷۴ .

۳ـ داکتاب داخند درویزه دمخزن لاسلام شرحه ده چه په فارسی لیکلی شوی دی اومولف یی عبدالله خلیفة الڅو نیکی الچشنی دی . د کتاب په آخر کښی مستنسخ داسی لیکلی .

«تمت هذالرساله شرح لابیات اخوند کریمداد در وقت عصرمن یوم لاحداد ببلدالغربا المسمی باحمد شاهی المشهور بالقندهارمن بلا دافغانی بالید الحقیرالفقیر سید کریمداد بن سیادت پناه سیدشیرشاه الچشنی الهم اغفرله ولوالدیه بحرمت سیدالهاشمی ... بتاریخ ۲۳ شهر ذالقعده سنه یکهزار و دو صد سی هفت بود اتمام یافت ـ ۱۲۳۷ » .

داسړی پښتو زبان معلومیږی ولی پس له دی کلماتو د شعر لیکی .

بیلتو نه کوردی شه خراب زه دی رنځور کړم زړه می یوسی ناری وهم فریاد هوی کړم

پاڼی ئی ۹X۷و نیم انچه دی او پرهره صفحه باندی ئی د۱۷ څخه تر ۱۸ په متوسط قلم لیکلی شوی دی. له نیکه مرغه نسخه سالمه او بی عیبه زمونږ لاس ته راورسیده او یوازی د۱۹ پاڼی کښته خوایی لږه خرابه شوی لیدل کیږی او متن ته نه رسیږی په حاشیه کښی ځینی اصلاحات لیدل کیږی او په ځینو مخونو کښی ځینی ځایونه سپین پریښول شوی دی چه ښائی د اصلاح یا تجدید نظر یادداشت دپاره دی چه عنوانونه به ئی په سره رنګ ولیکی ټول کتاب په یو لاس لیکل شوی دی د دې څخه معلومیږی چه ناسخ پوه سړی ؤ او دا کتاب یی دخپلې کتابخانی د پاره استنساخ کړی دی. د استنساخ تاریخ د کتاب په آخر کښی په دی تورو راغلی دی:

«تمام شد بتاریخ ۲۱۹۲۰۱ شهر محرم الحرام در بلده قندهار در قریه سیادت پناسید شیرشاه غفر الله له ولوالدیه سنه ۱۲۳۶ هـ.»

کاتب دلته خپل نوم نه لیکی اما په یو بل کتاب کی چه هم په دغه موضوع کی لیکل شوی او هم دغه سړی استنساخ کړی دی خپل نوم سید کریم داد بن سید شیرشاه دسید شیرشاه د کلی او سیدونکی لیکی. ځکه چه زمونږ د کتاب د استنساخ تاریخ اودتد وین تاریخ ډیر سره نږدی دی. موږ په یقین سره ویلای شو چه دا کتاب د اصلی نسخی څخه را نقل شوی دی او ځکه تر او سه بله نسخه نه ده میندل شوی ممکنه ده چه دا یو ا ځینی نسخه وی چه پاته شوی ده

د کتاب موضوع او محتویات:

خلاصة المریدین پس له بسم الله الرحمن الرحیم څخه په دی تورو شروع کیږی: الحمدلله الذی اعن العلم الشریعه والطریقه فی ازمنته کلها والصلوات والسلام بلا عد دو بلا نهایه علی محمد المصطفی

وعلى اله واصحابه .

پس له حمد ونعت کتاب په دې ډول معرفي کيږي .

« داکتاب په نامه ياد خلاصة المريدين دی ، په زبان دافغانی دربيان کړی شمس الدين دی .»

پس له دې نه مولف د احديث راوړی: العلم علمان علم الابدان وعلم لاديان علم لابدان بياپر دوه ډوله دی . ۱: طب او ۲: عرفان.

پس له يوی مختصرې مقدمی چه په هغه کښی دبدن ماهيت او دهغه ترکيب دڅلورو عناصرو څخه ، خاوره ، اوبه ، اور ، باد ، بيان شوی دی مولف د اول فصل په شروع کښی دطريقت علم بيانوی . دانسان بدن ، دده په نظر ، دڅلورو جوهرو څخه ترکيب شوی دی داعناصر اربعه عبارت دی ددی عناصروپه اساس دی بايد دڅلور مقاموڅخه تيرشی . چه هغه ناسوت ، ملکوت ، جبروت اولاهوت دی . سالك بايد ددرومراحلو څخه تيرشی او په څلورمه مرحله کښی پاتی شی . دبيان په شرح کښی مولف دهرې مرحلی آفات ښيئی .

کتاب په عموه‌ی توګه درې فصله او ۱۸ برخی لرې . په دی فصلو کښی شمس الدين کوښښ کوې چه دطريقت لار ثابته کړی او، حجابونه او انوار وښيی داولياو انواع تعين اوددوی مراتب واضح کړی ، دکتاب نور مهم مباحث دادی .

باب دربيان شيرها ، باب دربيان عناصر اربعه ، باب دربيان خطرات ، فصل دربيان رابطهٔ مرشد ، باب دربيان نفی اثبات ، باب دربيان مخالفت شرع ، باب دربيان ارواح ، باب دربيان ناسوت او ملکوت باب دربيان قلب اونور .

دمولف بيان په دې کتاب کښې ساده سليس او روان دی له دی

امله چه کتاب دمبتد یانو دپاره لیکل شوی دی او مولف غواړی دتصوف ګران او دقیق معانی په ساده الفاظو بیان کړی .

ددې کتاب مأ خذونه اومنابع .

۱ : سید علی همدانی .

سیدعلی همدانی یو دهغو اسلامی عارفانو څخه دی چه دډیرو اثارو په لیکلو او مسافرتونو معروف شوی دی . وایی چه دده مرشد شیخ شرف الدین محموددی ده ویلی وچه ددنیا هرګوټ ته لاړشی اوخپل تعلیمات خپاره کړی ځکه نودی له کوره ووت اوتقریباً دخپل عصر اکثر هېوادوته یی سفروکړ. دې هندوستان ته هم لاړ. اوډیروخت په کشمیر کښی اوسیده (۱) . پس له دی اوږ دو سفرونو په، سواد(سوات) کښی وفات شو . (۲) مریدانودده جنازه ختلان ته یوړه او هلته یې خاوروته وسپارله . دعلی همدانی اثار ډیردی (۳). خوزمونږ مولف مخصوصاً دده ددروکتابونو څخه ډیره استفاده کوی او هغه اداب المریدین سیرالطالبین او مرأت الحقیقت (۴) له ځینو ځایو څخه معلومیږی چه بنایی خلاصته المریدین داداب المریدین ترجمه وی په یوفصل کښی چه دپیراو مرید رابطه بیان شوی ده ، مولف وایی ، سیرالطالبین کښی شیخ علی همدانی ښه بیان راوړی داکتاب

۱ـ رحمن علی ، تذکره علمای هند . ص۱٤۸

۲ـ جامی ، نفحات الانس، دمهدی توحیدی اثر ، تهران ۱۳۳٦ر۱۹۵۷ محمدصدیق دهلوی کلمات الصل دقین، خطی نسخه /۲ق، ب .

۳ـ دده مهم اثار دادی . مجمع الاحادیث، شرح اسمائی حسینی، تذکره الملوك، شرح قصیده خمریه فارضیه شرح فصوص الحکم، اداب المریدین او نور .

٤ـ خلاصته المریدین، دادبیاتو پوهنځی نسخه ، ق۲ب ،۳، هم هغه کتاب ق.اب.

دی شمس الدین بنده له دې تالیف کړی (۱) اما دځینو نورو اثارو ذکر چه په دی کتاب کښی راغلی دی معلومیږی چه مولف دعلی همدانی مترجم نه دی بلکه دده اثر یوجلا کتاب او مطلق تالیف دی. مولف ددې کتاب په یوفصل کښی وایی چه دااثر دلسو نورو تصوفی اثارو نه تالیف شوی دی (۲).

۲- بل کتاب چه زموږ مولف په دې اثر کښی دهغه څخه استفاده کوی دامام عفیف الدین عبدالله یافعی رسالة المکیه دی (۳). یافعی ډیر تصوفی کتابونه لیکلی دی (۴) په رسالة المکیه کی خپل نوم نه وایی اماوایی چه دااثر په هغه وخت کښی چه دی په مکه کښی ؤ ولیکل شو او پس له هغی څخه چه دی دمکی څخه راووت او دمدینی او شام ترمنځ ئی سفر کاوه، داکتاب ئی بشپړ کړ (۵). شمس الدین په هغه فصل کښی چه دپیر او مرید رابطه بیئی ددې کتاب څخه استفاده کړی ده.

(۱) یافعی تردی عنوان لاندی یومستقل فصل لری. شمس الدین په دې بحث کښی یوحدیث دیافعی څخه رانقلوی اووایی.

(۳) دشمس الدین په مأخذو کښی دریم کتاب دشیخ نجم الدین رازی مرصاد العباددی نجم الدین دکبرویه دسلسلی پیر و او د شیخ

---

۱- خلاصته المریدین ۵ ۱ب. (۲) کشف الظنون للامام قطب الدین ابن ایمن لاصفهدی لیکی. ددارا شکوه سفینته الاولیاته، کانپور ص ٦٨ هم رجوع وکی.

(۳) جامی په نفحات الانس کښی لیکی چه دی ددی اثارو مولف دی. عبرت التیفطا، مرأت الجنان فی معرفته حوادث الزمان روضته الریاحین فی حکایات الصالحین، کتاب در النظم فی معرفته قرآن العظیم نفحات ص ۵۲۹. (۵) رسالته المکیه خطی نسخه ق ۱.

نجم الدین کبیری مریدؤ (۲) دا ښکلی تصوفی کتاب اخلاقی او صوفیانه مباحث لری او علاؤالدین کیقباد ته (٦١٦-٦٣٤) چه د ایشیای کوچك له سلجوقیانو څخه و (۳) اهداشوی دی زموږ مولف د ډول ډول صوفیانو (۴) داوصافو په باره کی اوهم د غسی د ناسوت او ملکوت په تعریف کی (۵) ددې کتاب څخه استفاده کړی ده .

(۴) نفحات الانس هغه ډیر معروف او عالمانه کتاب چه نور الدین عبدالرحمن جامی د صوفیانو په احوال کښی لیکی . شمس الدین په ډیرو ځایو کښی ددې کتاب څخه استفاده کوی مخصوصاً په هغه فصل کښی چه د پیر او مرید رابطه بیان شوی ده ددې کتاب څخه ئی ډیرې استفادې کړی دی د ډیرو کتابونو نومونه چه په دې فصل کښې راغلی دی معلومیږی چه مولف وډیرو آثارو ته مراجعه کړی او د افصل ئی ښه تحلیل کړی دی ، او غواړی چه په آسانه او ساده عبارت ئی و مریدانو ته بیان کړی جامی د نفحات الانس په مقدمه کښی د مریدانو احوال او ددوی مرتبی راوړی دی (۵) دا بحث په خپله په نفحات کښی بیا د علی هجویری پر کشف المحجوب او فتوحات باندې مبنی دی .

(۵) تفسیر حسینی یا جواهر التفسیر لتحفته الامیر چه د امیرعلی شیر نوائی (۲) د پاره لیکل شوی او د مولانا حسین بن علی الکاشف الواعظ تالیف دی . په یو فصل کښی چه یو ... باندی دی

---

۱ـ هم هغه کتاب ق٦ب . (۲) دکتر رصفا، دایران داد بیاتو تاریخ دوهم ټوك ص ۲۲۰ . (۳) د مشکواته اهداشوی کتابونه ص ٦٧٨ . (٤ ق ٥١٣، ٥ق ١٣ب ٤ق ٥١٠ . ـ (٥) دمهدی توحیدی نور چاپ تهران ص ١٩ .

۲ـ کشف الظنون ص ٤٠٨ .

مؤلف دې کتاب ته اشاره کوی (۲)

(٦) شرح مشکواة د شیخ عبدالحق بن سیف الدین بن سعدالله اثر .
عبدالحق ډیر تالیفات لری رحمان علی په تذکره علمای هند
کی وایی چه دده آثار وسلو ته رسیږی (۳) دده د کتابو څخه یو تفسیر
دی چه پر مشکواة باندې په عربی او فارسی لیکل شوی دی .
شمس الدین داویس قرنی (۴) په شرح حال کښی له دی کتاب څخه
استفاده کوی . بل ځای دا بدالو شرح راوړی او بیا ودی کتاب ته
رجوع کوی او بیا وائی چه دا بیان په شرح مشکواة کښی مفصل
راغلی دی .

او دا بحث دهغه خلاصه ده .

(۷) رسالة سلطان محمود غزنوی . د بایزید بسطامی په شرح حال
کښی مؤلف دیوې رسالی نوم اخلی چه دده په قول د سلطان محمود
غزنوی تالیف دی (۵) د سلطان محمود غزنوی په قلم وموږ ته کوم
تصوفی کتاب نه دی پاته . د کشف الظنون په قول (٦) دی دیو کتاب
مولف دی چه د تعزید الفروع په نامه یادیږی وایی چه ده په دینی
علوموکی ښه معلومات درلودل او دی کتاب په غزنی کښی ښه
شهرت لاره . مگر نه دده دا کتاب پاته دی او نه نور آثار ئی . د سلطان
محمود غزنوی د دغی رسالی نوم چه په دی کتاب کښی راغلی دی
نه معلومیږی .

(۸) تفسیر قریشی . قریشی به د نا سخانو اشتباه وی د کتاب اصلی
نوم تفسیر قشیری دی چه ابوالقاسم عبدالکریم بن هوازن الشافعی

(۲) ق ۱۰ ب . (۳) تذکره علمای هند ، نولکشور ص ۱۰۸ .
(٤) ۵۹۵ . (۵) ق ۱۸ ب (٦) معارف مطبعه ی ، استانبول ، ۱۹٤۱ .

تالیف کړی (۱) او عبدالکریم دمتصوفینو دلو یو مفسرینو څخه ګڼل کیږی . زموږ مؤلف داذکارو په اهمیت کښی له دی کتاب څخه استفاده کوی په دی بحث کښی مؤلف غواړی یوه آیه تفسیر کړی (۲) په دې بحث کښی ئی وعینی نورو آثارو ته لکه هدایت الاعمی ، رساله مکیه ، سیرالطالبین هم اشاری کړی دی .

(۹) مکتوبات یعقوب چرخی . یعقوب بن عثمان په خپل تفسیر کی چه تفسیر یعقوب چرخی نومیږی او ډیر معروف دی (۳) یعقوب دلوګر په چرخ کښی پیدا شوی د بهاءالدین نقشبند (وفات ۷۱۹ر۱۳۸۹) شاګرد اود عبدالله احرار (وفات ۸۹۵ر۱۴۹۰) پیر استاد وو . یعقوب په ۸۳۸ کی وفات او حصار شادمان ته نږدی په یوه کلی کی چه حلیفو نومیده ښخ شو (۴) ده ډیرې رسالې تالیف کړی دی . مګر دده په آثارو کښی دمکتوبا تو نوم ډیر لږ لیدل شوی دی .

مرغوب القلوب : په یو فصل کښی چه مولف غواړی د طریقت لارې بیان کړی واحادیثو ته رجوع کوی دلته دنورو کتابو په سلسله کښی یو کتاب دمرغوب القلوب په نامه ذکر شوی دی ددې کتاب تفصیل ومو ږ ته نه دی معلوم حاجی خلیفه دومره وائی چه دا کتاب په فارسی لیکل شوی دی .

---

۱ـ ذبیح الله صفاء ، تاریخ ادبیات ایران ، ص ۲۰۲۵۷ ) الذاکرین الله کثیر هاوالذاکرات .

۱۰۵ب . (۳) کشف الظنون ص ۰۳۱۶ . (٤) غلام سرور لاهوری (٥) ق٥ب .

۲ـ کشف الظنون (ص۰٤۱۸ر۲ر۱٤ ب ر۱٦ب (۳) ق۱٥ب . (٤) ق ۸ ۰٥۱ر ٥رق ق ۱۸د . (٦) . ق ۱۸ب (۷) طبقات الصوفیه، دحبیبی په کوښښ د افغانستان تاریخ ټولنه کابل (۱۹٦۲ ص ۰٤۰۲ (۸) ق ۲۰ د (۹) د شرح په حال طریقه

داخو مهم مأخذونه دی چه زموږ مولف دخلاصته المریدین په تالیف کی دهغو څخه استفادی کړی دی. دده وسعت نظر او معلومات چه په اسلامی علومو کښی او مخصوصاً په تصوف کښی و ده ته موقع ورکوی چه دډیرو اثارو څخه استفاده وکی او دهغو کتابونو څخه نقل قول راوړی. او ځینی قیصی د دوی په شرح حال را نقل کړی دشیخ جنید بغدادی (۲) بهاء الدین نقشبندی (۳) بایزید بسطامی (۴) شیخ احمد خفروی (۵) شیخ حبیب عجمی (٦) (عجبی) (۷) شیخ عبدالقادر جیلانی (۸) باباسمائی او (۹) شیخ احمد جام (۱۰) او نور په دی کتاب کښی مولف له قرآن شریف او احادیث نبوی څخه ډیره استفاده کړی او ډیر آیات او احادیث ئی د کتاب په مختلفو فصولو کښی رانقل کړی دی. دی دفارسی او فارسی اثارو مخصوصاً صوفیانه کتابوسره ډیر بلد دی. او د حافظ د دیوان او د سعدی او جلال الدین رومی له اثارو څخه ئی ډیری استفادی کړی دی.

سبك :

شمس الدین د دې کتاب د انشاء دپاره مسجع نثر انتخاب کړی دی په نونسم قرن کښی پښتنو لیکوالو اکثر علمی کتابونه په متصنع او مسجع عبار تو لیکل دا ځکه چه لوستونکو باندې ښه اغیزه وکړی په پښتو کښی داسبك د پیر روښان او اخند درویزه څخه شروع شو نو روهم تر نونسمی مسیحی پیړۍ پوری د دوی تعقیب و کړ.

د شمس الدین سبك که څه هم تصنعی دی اما ډیر اسان او روان لیکل شوی دی او هیڅ تعقید پکښی نه لیدل کیږی. مولف ناما نوسه

---

به طریقهٔ خواجگان د محمد طاهر بن مولانا طیب ق ۸۸ د. (۱۰) د ده ژوند په خلاصة المقامات کی وگورئ.

عربی اوفارسی الفاظ نه استعمالوی ځکه چه دی غواړی د مبتدیانو دپارهٔ یی ولیکی اوله دې امله عبارت روان او خالی دتعقیده څخه راوړی .

ناسخ چه پښتو زبانه معلومیږی که څه هم په صوفیانه اثارو کی ډیر معلومات لری اما په املا کی ضعیف ښکاری اوځینی غلطی په کتابت کښی لیدل کیږی چه دلته مونږ یو څه رانقلوو .

| | |
|---|---|
| للقمان | لقمان |
| نبظ | نبض |
| تعویز | تعویذ |
| شغله | شعله |
| سفین | سپین |
| اهینه | ائنه |

په لنډه مونږ ویلای شو چه خلاصة المریدین یو صوفیانه کتاب دی چه شمس الدین کاکړ یاغلجی څه رنګه چه په دې کتاب کی راغلی دی تالیف کړی دی . دا کتاب په کشك نخود کښی چه دکندهار د ښاراو دهلمند دناوی په منځ کی یوه لویه منطقه ده تالیف شوی دی . ددې کتاب کاتب سید کریم داد دی چه دسید شیر په کلی کښی اوسیده کتاب غالباً دمؤلف په ژوندکی لیکل شوی دی اوډیر احتمال لری چه له اصلی نسخی څخه رانقل شوی وی .

دامضمون د جنوری په ۱۰ نیټه د ښاغلی رشتین له‌خوا د آل انډیا راډیو په پښتو پروگرام کښی ویل شوی دی.

# په ډیلی کښی د ختیځ پوهانو کانگرس

گران اوریدونکی خبر دی چه د جنوری دمیاشتی له څلورمې نیټې څخه ترلسمې نیټې پوری په ډیلې کښی د نړۍ د ختیځ پوهانو کانگرس یوه لویه غونډه وشوه په دې کانگرس کښې دهند اود ټولې نړۍ دولسو سوو نمایندگانو برخه واخیسته اود دنیا له هرې برخې نه ورته ډیر لوی لوی پوهان اوادیبان راغلی وو لکه نومیالی ختیځ پوهاند مارگنسټرن نار ویژی، پروفیسر بادار ډنمارکی او نور. ددې کانگرس مشر دهند یو نومیالی سړی پروفیسر همایون کبیرؤ. رشتیا خبره داده چه ددغه کانگرس دپاره د هند د کلتور د وزارت له‌خوا نه پوره پوره بندوبس شوی ؤ یوه هفته پرله پسی هره ورځ به دولس سوه پوهان دوگیان بهون ښکلې او ښائسته ماڼۍ ته راغونډیدل اوپه پوره مینه او دلچسپۍ به هرچا د پوهانو او عالمانو له نویو څیړنو او پلټنو څخه بی اندازې خوندونه اخستل په دغه ماڼۍ کښې د لوی غونډې دهال نه پرته دهرې څانگې دپاره ځانله ځانله ځایونه ټاکل شوی وو چه دهر سړی دپاره پکښی دځانله چوکۍ او میکروفون انتظام شوی ؤ په دې کانگرس کښی دشریکی مینی یوه ډیره خوږه فضا جوړه شوی وه او دهرچا په تندی کښی به دخوښۍ او خوشالۍ پلوشې ځلاندې ښکاریدې.

دنړۍ د بېلو بېلو اولسونو او ملتونو د نزدیوالی په سلسله کښې که څه هم هر ډول بین المللی جرګې او غونډې سودمنی او فایده منی وی، خو د ختیځ پوهانو د دغه کانګرس فایده او خوند تر ټولو زیات او غوره بریښی، ځکه چه نورې غونډې یا د سیاسی غرضونو د پاره او یا د اقتصادی مقصدونو د پاره کېږی، مګر د ختیځ پوهانو دغه راز کانګرسونه یوازی د خپرید واو د مینی د زیاتېدو د پاره وی.

مونږ په دې کانګرس کښې ولېدل چه د جلا جلا نسلونو او ملتونو خلک له یو بل سره په داسې مینه غږېدل لکه چه ټول د یوې کورنۍ او یو کهول خلک وی. په دې کانګرس کښې د افغانستان نمایندګانو هم پوره برخه وا خسته او د قلمی نسخو، او لسی ادب واد پښتو د نثر په تاریخ یې زیاته رڼا واچوله او ډېر کسان یې د پښتو ادب له تاریخ او نوی ژوند سره اشنا کړل تر اوسه پوری د نړۍ زیات پوهان په دې فکر ووچه پښتو یوه مړ ژواندې او ناخپلو اکه ژبه ده مګر اوس پوره باور راغی چه دا ژبه هم ژوندی ادب لری او د عمر په لحاظ هم یوه زړه آریایی ژبه ده، د افغانی نمایندګانو د کنفرانسو په اوریدو له ډیرو کسانو سره د اشوق پیدا شو چه ژر تر ژره افغانستان ته ولاړ شی او هلته په خپله د دې ژبې خپاره شوی ګرامرونه، قاموسونه تاریخونه او نور کتابونه وګوری.

د منځنی ایشیا د آریایی ژبو په څانګه کښې د دغې سیمې له پوهانو څخه سربیره د اروپا ډیرو لویو پوهانو هم برخه وا خسته په تیره د پروفیسر هومباخ المانی کنفرانس د افغانستان د سرخ کوتل د کتیبې په باره کښی ډیر خوندور او په زړه پورې ؤ په دې څانګه کښی د اوستا او پهلوی لویو لویو پوهانو د اوستا د ګاتو نو په باره کښی غوره

ویناګانې وکړې، اوهندی پوهانو د پارسی ژبې ادب په برخه کښې ښه ښه معلومات دهرچا غوږونو ته ورسول کله کله به پکښې داوستاد پوهانو اود ویداد پوهانو ترمنځ دمناظرې یوه خوندوره سلسله هم شروع شوه اود علم اوپوهې طاقت به یو بل ته تور برینښونه هم وکړل.

په دې ځانګه کښې دشوروی اتحاد ډیر نمایندګان هم موجود وو اود تاجکی پارسی ادب په ځینو اړخونو یې نوی معلومات میدان ته راوویستل دایران په نمایندګانو کښې استاد فروزانفرد شمس تبریز په کلیاتو باندې او ښاغلی ډاکټر زرین کوب په ایرانی خورا کونو باندی خپلې مقالې واورولې اوپه دې شان یې یوساعت اوریدو نکی دخوراکونو په خوند هم خبر کړل دافغانستان په برخه کښې چه کوم نوی شی خلکو ته وړاندی شو هغه داور مړی ژبې په باره کښې دښاغلی کیفر فرانسوی نوی څیړنې وې.

دا څیړنې بیخی په زړه پوری اود اوریدونکو د دلچسپۍ وړ وګرځیدې، بل نوی شی هغه راپورټ وچه دموسیو رادار له خوا په افغانستان کښې دآریایی ژبو داطلس دجوړیدو په باره کښې ترتیب شوی و ددغه رپورټ داوریدو دپاره یو خاص مجلس جوړ شوی و اوډیر لوی لوی ختیځ پوهان یې اوریدوته راغلی وو.

لنډه داچه په ډیلی کښې دختیځ پوهانو بین المللی کانګرس په هر لحاظ دنورو معلوماتو خوږو نظریاتو اوتازه څیړنو څخه ډک و زه په آخر کښې دافغانی نمایندګانو له خوا دهند د کلتوری وزارت پوره انتظام، ښه چلند اومنظم پروګرام دپوره ستاینې وړ بولم اود افغانستان اوهند اودټولې نړۍ داو لسونو ترمنځه دعلمی او ثقافتی لارو چارو دجوړیدو دپاره ډیره زیاته هیله ښکاره کوم.

شپږ ن

# دختیځ پیژندونکو په ۲۶ کانګرس

یوه تبصره

دختیځ پیژندونکو شپږو یشتم کانګرس چه د ۱۹۶۴ دجنوری له څلورمې نیټې څخه ترلسمې پورې په نوی ډیلی کښې دایر شوی ؤ له ډیرو خواوو په زړه پورې اود تبصرې وړ ؤ .

دافغانستان دهیأت ډله ( چه له پوهاند صدیق الله رښتین، پوهنوال میر حسین شاه اوما څخه جوړه وه) دکانګرس له پیل څخه یوه هفته پخوا ډیلی ته ورسیده .

دجنوری په څلورمه په نهو بجود کانګرس محل ته ورغلو . داځای چه ویجان بهاون (دپوهې تالار) نومیده له یوه لوی تالار او یولړ نورو سالونو څخه جوړ شوی ؤ . مونږ نه پوهیدو چه زمونږ دپاره کوم معین ځای ؤاو که نه خودر سیدو سره سم پوه شوو چه نه یوازې زمونږ چوکۍ ټاکل شوې دی بلکه زمونږ دپاره ځینی مؤظفین هم ټاکل شوی وو چه دکانګرس ټول نشریات اودهغه متعلق معلومات یې راکول .

دافغانستان څوکۍ دردیف په لحاظ په لوژ کښې د ټولو څوکیو په اخر کښې وه . په دې ورځ (۱۲۰۰) تنه ختیځ پیژندونکی په دې خونه

کښې راغونډ شوو واو داخونه دومره لویه وه چه په سلو کښې دیرش یا څلویښت څوکۍ لاتشې پاتې وې. له دې یوزرو اودوه سوو پوهانو څخه شپږسوه تنه پخپله هندیان، وو یعنې دهرخارجي عالم په مقابل کښې دوی یووطني عالم کانګرس ته وړاندې کړی ؤ. په هرمیز باندې اوتقریباً دهرې څوکۍ دپاره یومکروفون ایښی ؤ چه سړی هم له هغې نه وینا اور یدلی شوه اوهم یې وینا کولی شوه.

ډاکټر همایون کبیر کانګرس افتتاح کړ اود ۲۵ او ۲۶ کانګرس دوقفې ترمنځ دیولې پوهانو دمړینې په اثر یې خواشینی ښکاره کړه اود مجلس څخه یې د یوې دقیقې چوپتیا هیله وکړه.

ورسته بیا یوه زاړه هندی پوهاند خلکوته ښه راغلاست ووایه دشوروی اتحاد پروفیسر غفور وف چه د۲۵ کانګرس رئیس ؤ دخدای پامانۍ اوهمایون کبیر ته دریاست دواګی د سپارلو په ترڅ کښې د کانګرس کامیابی وغوښته.

پروفیسر همایون کبیر وروسته دهند دجمهور رئیس جلالتماب راداکرشنان بیانیه ولوستله (پخپله ډاکټر راداکرشنان د ناروغۍ له کبله حاضر نه شو) خو په دغه لړ کښې په خپله دپروفیسر همایون کبیر وینا ترټولو لوپه زړه پورې اوجامعه وه اودکانګرس دپراخ نظرۍ اوعالمانه تحقیق دمتود اور وش دپاره یې د کړنلا حیثیت درلودای شو.

پروفیسر همایون کبیر داسې پیل وکړ:

« دهند دحکومت اوخلکو په نامه او دخپلو همکارانو له خوا ټولوګډون کوونکوته ښه راغلاست وایم .... »

بیا یې په هند کښې د کانګرس دایرکید لوته داشارې په ترڅ کښې

وویل «دالو مړی ځل دی چه کانګرس د اروپا له قاري څخه د باندې جوړیږی او په هند کښې دهغې جوړ یدل یووړ او مناسب کار ؤ ځکه هند د ماقبل تاریخ نه تر اوسه پورې د بیلو بیلو تمدنونو او ثقافتونو د سره یوځای کیدو مځکه ده او د تاریخ په اکثرو مرحلو کښې شرق او غرب په هند کښې سره ملاقی شوی دی. داچه د ختیځ پیژندنې کانفرانسونه تر اوسه پورې تل په اروپایی اوغربی هیواد وکښې کیدل یو ښکاره دلیل لری او هغه د اروپا اوغرب د پوهانو زیار او هاند دی چه د ختیځو هیواد ود تاریخ او ثقافت په لاره کښې یی بې د ختیځ د پوهانو همکاری نه ایسته. له همدې ځایه ختیځ (Orient) او لو یدیځ (Occident) نومونه راپیدا کیږی او د ظاهر بین په سترګه د دوی په منځ کښې یو ډول بیلتون لیدل کیږی جاپان او چین دار وپاد خلکو په نزدلرې ختیځ دی خود ایشیاد خلکو په نظر لرې لویدیځ دی ځکه د کالیفورنیا غرب ته پراته دی. » .

پروفیسر کبیر ور وسته ددې جغرافیی او منطقوی فلسفې سره دمخالفت په ترڅ کښې زیاته کړه «۲۵ کاله دمخه ځینی خلکو د اسې اصطلاحات لکه نازی یا مارکسستی بیالوژی، استعمار لول حال داچه داعلمونه دسیاست له نظره نه څانګې څانګې کیږی او د علم ویش که دسیاست له نظره وی یاد نژاد او مذهب له پلوه هیڅ اعتبار نه لری. حتې دعلومو پخوانی ویش چه دموضوع له نظره ؤهم اوس درست نه دی او هغه ژوره لیکه چه عالمانو د فزیك، کیمیا او بیالوژی ترمنځ راکښله اوس خارجی واقعیت او عملی ګټه نه لری همداسې هم تاریخ، جغرافیه، اقتصاد او لرغون پیژند نه په داسې ډول یوه په بلی کښې داخلیږی چه سړی په دې فکر کښې اچوی چه طبیعیات او ماورای

طبیعیات به هم همداسې سره ګډ او یو دبل ادامه وی .»

پروفیسر کبیر له پورتنۍ فرضیې څخه دا نتیجه اخیسته چه «دا به دیوه محقق دپاره په زړه پورې موضوع وی چه داروپا ، اسیا او افریقې خلکو معتقدات او کولتوروسپړی او په هغې کښې واحدې او مشترکې ریښې وګوری . دیونان لرغونی تمدن د جنوبی هند د دراویدیانو تهذیب ته ډیر ورته دې . د سقراط څخه پخوا یونان نه داسې اثار پاتې شوی چه دلرغونی مصر اوهندد تفکر اتو او عقید و څرك ترې لګیږی . همداسې هم دمسیحیت په عالم کښې ډیر عقاید ګورو چه دهغې ریښې په هند کښې پیدا کیدای شی .

همداسې هم هند دیونان له نجوم ، ډراما او نورو علمی میراثو څخه ښادمن شوی او دهند دنن ورځې دکلچر په خزانه کښې دنورو تمدنونو قیمتی آثار لیدل کیږی .»

پروفیسر کبیرهغو شرقی اواسلامی محققینواو پوهانو ته اشاره وکړه چه یو وخت یې دغرب دکولتوری اړخو په پلټنو کتابونه لیکل او په دې ډله کښې یې البیرونی یاد کړ چه دنړۍ دینونه یې په مقایسوی ډول پلټل .

په اخره کښې پروفیسر کبیر د صمیمیت او همکارۍ او وسیع نظر په سیوری کښې دکانګرس دکامیابۍ آرزو وکړه او هیله یې ښکاره کړه چه دمعلوماتو دارا کړه ورکړه به د بیلو بیلو هیوادو داشنایۍ او ملګرتیا په لار کښې مثبت رول ولري . وروسته بیا د ملګرو ملتو د سرمنشی او دیونسکو درئیس پیغام او تبریکنامه ولوستل شوه .

ددې ورځې سهرنۍ غونډه په همدې ځای کښې پای ته ورسیده

او مونږ بیرته خپلو هوټلو ته ستانه شوو . مازیګر بیا ښاغلی نهرو کانګرس ته راغی او یوه په زړه پورې وینا یې وکړه او په هغې کښې یې (لکه څنګه چه د ښاغلی نهرو عادت دی) پهډیره شکسته نفسۍ د کنفرانس سویه تردې لوړه وبلله چه دی دې په کښې څه ووایی وروسته یې نونه یوازې څه وویل بلکه یو لړ عالی فلسفی مطالب یې په یوه په زړه پورې طریقه په داسې حال کښې بیان کړل چه د اوریدونکو چکچکې ورسره ملې وې . په دغه ډول نو د کانګرس لومړۍ ورځ پای ته ورسیده او د کار ورځ یې ګویا سبا ته شروع کیده .

دجنوری په پنځم تاریخ زموږ کنفرانسونه پیل شول . کانګرس د کار د اسانتیا د پاره د موضوع له نظره په لاندې څانګو وویشل شو : هند پیژندنه ، ایران پیژندنه، مصر پیژندنه،سامی مطالعات ، التایی مطالعات ، ترک پیژندنه ، اسلامی مطالعات ، دافریقې مطالعات داسیا د جنوب ختیځ مطالعات ، هیتی مطالعات او داسې نور .

موږ ددې ویش له مخې په ایران پیژندنې کښې راغلی وو . داد «ایران» او ایران پیژندنې نوم اکثر وخت په دغسې مواقعو کښې موږ ته مشکلات پیدا کوی ، ځکه دایران پخوانۍ او لرغونۍ کلمه اوس په پخوانی فارس (اوسنی ایران) ایښودل شوی ده .

نو موږ د کانګرس منتظم ته چه یوه مهربانه ښځه ده او کاپیلا ویتسبایان نومیږی ورغلو او دا موضوع مو ورته وړاندې کړه . موږ وویل چه د ختیځ پیژندونکو په تیر کانګرس کښې (چه په مسکو کښې جوړ شوی ؤ) هم افغان پیژندنه ځانله بیله څانګه وه او په هغې کښې ټول لرغونی او اوسنی افغانستان شامل ده . د کانګرس اصلی

او مشورتی کومیټو سره جرګه وکړه او په اخره کښې یې موږ ته داسې ځواب راکړ: اوس حاضر تاسې درې تنه یې او دومره کافی مقالې نه لرئ چه یوه بیله څانګه درته جوړه شی. خو کیدای شی چه په همدغه څانګه کښې یوه ورځ افغان پیژندنې دپاره وقف شی. پروفیسر مار ګنستړن چه د ژبپوهنې بین المللی رئیس دی هم زمونږ ملګری ؤ او ددې مشکلاتو نه ښه خبر ؤ په دې ډول نو موږ خپلې خونی ته چه هماغه ایران پیژندنه وه داخل شوو. دموږ دغړوشمیر سلو ته رسیده او د کنفرانس رئیس مو پروفیسر پور داود ؤ. د ده مرستیال هندی پروفیسر کنګاو. دایرانی ګډون کوونکو شمیر لسو تنو ته رسیده چه مشهور پوهان یې سعید نفیسی اوفروزانفر وو خوله دغو دواړو څخه یوازې فروزانفر وینا وکړه او هغه بل یې دکتونکی په حیث ناست و. ددې دوو پوهانو په لړ کښې به دد وو تنو وینا وګورو. یو ډاکټر زرین کوب و چه یوغلی او خوش مشرب سنګین سړی ؤ د ه د جنوری په نهمه خپله ویناد «ایرانی خوراك» په باب کښې وکړه او له حلوا څخه نیولی تر کوفته او کباب پورې یې یا دکړل چه زما پخیال د ختیځ پیژندونکو له کانګرس سره یې اړه نه در لوده.

بله ډاکټر عباس احمد مزدا وینا وه چه د ایرانی ګوتو تاریخ یې عنوان ؤ موږ فکر کاوه چه دی به دګوتې او ګوتمی تاریخ وپلټی خو معلومه شوه چه دیو لړ ګوتو فلمونه او سلایډونه یې موږ ته ښودل او هره ګوته به چه دپردې په مخ ښکاره شوه ده به وویل دا ګوته دهخامنشه شاهانو ده، یا دا ګوته دساسانیانو دشاه ده. خو د ګوتې او زرګرۍ هنر د تکامل او د شکل له مخې دهرې دورې د آرټ او

د خصوصیت په باره کښې یې دومره څه نه درلودل . ځینو هندیانو هم همداسې معلومات وړاندې کول . مثلاً ب . ن . ټنلون لکنوی د هرات او د هغه سره د انګلیسانو دارتباط په باره کښې یو تحقیق وړاندې کړ او په هغه کښې یې وویل چه «هرات د جغرافیې له مخې په خراسان کښې واقع دی او په کال ۱۸۵۷ کښې چه د انګلیسانو او ایرانیانو ترمنځ جنګ وشو نو انګلیسانو هرات له ایران نه جلا کړ او په افغانستان پورې یې وتاړه» حال دا چه په بل ځای کښې یې ویل «ځکه چه د انګلیسانو او افغانستان د امیر په دې وجه چه هغه روسانو ته مایل ؤ سره فرانه وه نو انګلیسی د پیلو ماتانو غوښتل چه هرات له افغانستان نه بیل او په ایران پورې یې وتړی . » دده دوینا په پای کښې د افغانستان د ادبیاتو پوهنځی مرستیال پوهنوال میر حسین شاه له ښاغلی ټنلون نه پوښتنه وکړه چه «ستاسو په عقیده خراسان کومې منطقې ته ویل کیدای شی ؟» نو په نوموړی کښې دا طاقت نه ؤ چه په خراسان کښې دشاملو منطقو نومونه یاد کړی او دا ځکه چه ده هیڅکله ځان نه وور پسې خوار کړی او دخراسان دساحې په باره کښې یې تاریخی شواهدنه وولټولی او یوازې د انګلیسی او ایرانی منابعو څخه یې د هرات متعلق څه سیاسی مطلبونه راټول کړی وواو هغه هم یواړ خیز او د نورو د مفادو او فلسفو له مخې . زما په خیال یوه سړی چه هرات نه وی لیدلی او یا اقلاً یې هغه آثار نه وی لوستلی چه د هغه هیواد له خوا لیکل شوی دی چه هرات په کښې واقع دی . حق نه لری چه داسې تاریخی قضاوت وکړی چه د ختیځ پیژندونکو د کانګرس ته په وړاندې کیدو وارزی خو نورې ویناوې په عمومی ډول ښې درنې او پخې وې په دې مینځ

کښې یو لړ زردشتیان هم ووچه دمقدسو ګاتو څخه یې آیتونه راوړل اودهند افغانستان اوایران دځینو ژبو دلغاتو سره یې دهغې لغتونه اوګر امری رغا مقایسه کوله. دا زردشتیان چه سپین کالی او مخصوصی خولۍ یې، په سروې ډیر تکړه اوپه ځان ویسا ښکاریدل او اکثر به یې دکانګرس انحصار ته هڅه کوله دبحث اومشاجرې سره یې مینه ښکاره کوله ـ ترڅو یوغربی ختیځ پیژندونکی دکانګرس په یوه جلسه کښې راولاړ شو او دیوه زردشتی سره یې په دې مخالفت وکړچه هغه تل دزردشت کلام ته آسمانی اوقدسی جنبه ورکوله اوپه داسې لهجه به یې دده وینا وې ستایلی چه ګویا دکانګرس ټول ګډون کوونکی دزردشت په قدسیت او آسمانی تعلق او ارتباط قایل دی دې غربی ختیځ پوهاند ټولو زردشتیانو ته چلینج ورکړ چه «زردشت او دده کلام له آسمان اوخدای سره هیڅ ارتباط نه لری اوکه تاسو وایی ء چه لری یې نو یې ثابته کړی ء» داول ځل دپاره زردشتیان دیوه مخالفت سره مخامخ شول. نو یو ملا ډول زردشتی عالم پاڅید او غربی ختیځ پوهاند یې مخاطب کړ «جنابه! که ته یې نه منې نو یې درد دلیلونه راوړه بیا به یې زه دقبول دلیلونه راوړم.» خوغربی پوهاند نه غولیده ویې ویل «لومړی یې ته وجود ثابت کړه بیا به یې زه رد کړم یوشی چه اصلاً وجود یې لا ثابت نه وی د هغه عدم به څنګه ثابت شی؟» بحث دوخت دلږوالی له کبله پرې شو خودومره وشو چه زردشتیان له پخوانی دبدبه ولویدل اونور یې د مجلس انحصار او هر بحث ته ددانګلو هڅه نه کوله. مګر لاهم دسپینو جامو اوږیرو سره په یوه پره کښې کتار کښیناستل اویو دبل سره به یې ګونګوسی کاوه.

زموږ په سکشن کښې د شوروی اتحاد ګڼ شمیر مشهور پوهان هم

موجود وو اوددوی موضوعات ټول په زړه پورې مهم او ژور وو.
دډاکتر غفور وفد د ۲۵ کانګرس رئیس مقاله د شور وی منځنی ختیځ
د کولتوری انقلاب په باره کښی وه چه په هغی کښې یې دد ې تحول او
انقلاب خصوصیتونه یاد کړل دامقاله د جنوری په نهمه ولوستل شوه.
بله د کمال الدین عینی (د مشهور صدر الدین عینی زوی) وه چه
د تاجیك په کلاسیك بزمی اشعارو لیکل شوی وه او په هغی کښې یې یوه
قدیمی نسخه د «شهر یار نامه» په نامه معرفی کړه بله مقاله د
«ر.م» علی یف وه چه د فارسی اشعارو په نوی میلان باندې وه او د فارسی
(البته ایرانی فارسی) نوی شاعران اود هغوی سبکونه یې معرفی کول.
بل د پروفیسر ۱.اس. برګینسکی ویناوه چه (د شرق په تیره د فارسی
اشعارو اثر په غربی اشعارو) یې عنوان و. په دې
کښې یې د ګویتی په اشعارو تبصره کړې وه. د غربی
پوهانو مقالې او تحقیقات هم عالمانه وو او دا ځکه چه د ختیځ
پیژندنی اصلی مؤسسین هم همدوی دی او یوازې په دې راورو سته
کلو کښې په خپله د آسیا او افریقا خلك دې سوال ته متوجه شوی دی
چه ولی خپل کولتور په خپله ونه ځیړی؟ په دوی کښې دلویدیځ المان
هلموت هومباخ اود استریا رابرټ ګوبل دیاد وړدی چه په باختری
ژبو او په خصوصی ډول یې د سرخ کوتل او پیښور په حفریاتو او د هغې
په لوستلو تحقیق کړی و، او هغه دواړه کتیبی (د پلخمری او پیښور)
یې یوه د بلې سره مرتبطې وګڼلې او یوه یې د بلې په مرسته معنی کوله
ده په دې مورد کښې دیوه بل لرغون پیژندونکی پروفیسر هیننګ سره
مخالفت څرګند کړچه هغه پخوا د د سرخ کوتل کتیبه د سکوله مخې
بې له دې چه د هغوی تاریخی خوا ووته اهمیت ورکړی حل کړی وه.

بله مقاله دامریکایی پروفیسورو الټرج فشل وه چه د ابن خلدون د آثارو له مخې یې تر اسلام دمخه ایران ترسیم کړی و.

په همدې ترتیب جلسې روانې وې او موږ هم په خپل وار خپلې مقالې ولوستلې او دهغو دعلمی ارزښت په باره کښې هیڅ نه شم ویلی ځکه په خپله مقالې په همدغه ګڼه کښې دلوستونکو دقضاوت دپاره خپریږی.

دمقالو په لړ کښې باید داسې افغان پوهانو لکه پروفیسر مارګنسټرن پروفیسر رودار او ښاغلی کیفر ذکرو کړم. دنو موړو د راپورو دپاره یو بیل جلوس ترتیب شوی ؤ چه هغې ته ګڼ شمیر کتونکی راغلی وو. دجلسې ریاست دپروفیسر مارګنسټرن په غاړه ؤ.

وروسته د پروفیسر مارګنسټرن له افتتاحی وینانه، رودار دافغانستان داتلس جوړونې دپلان او تأسیس په باره کښې یوه بیانیه وکړه چه په هغې کښې یې داپلان او دهغې مقصد خلکو ته ور وپیژاند. بیانو ښاغلی کیفر دژبپوهنی د اتلس دکارد پر مختګ په باب کښې د افغانستان رول څرګند کړ او داد بیا تو پوهنځی د ژبپوهنې دفعالیت یادونه یې وکړه. کنفرانس په فرانسوی ژبه ؤ خو وروسته بیا پروفیسر مارګنسټرن راته وویل چه موږ پیشنهاد وکړ چه هغه فعالیت چه په دې برخه کښې په افغانستان کښې کیږی د کمیت او کیفیت له مخې دتهران له پوهنتون نه ډیر دی. نو د کومیټې دا پیشنهاد چه د رئیس شرقی مرستیال دې له افغانستان څخه انتخاب شی ومنل شو او په نتیجه کښې ښاغلی شاکر د کابل پوهنتون داد بیا تو د پوهنځی د ژبپوهنې دڅانګې آمر دغی څوکۍ ته انتخاب شو.

دجنوری په لسمه له غرمې نه وروسته بیا ټول په ستر سالون کښې سره غونډ شو و او اختتامیه مجلس جوړ شو. دافغانستان څوکۍ در دیف په لحاظ لومړۍ څوکۍ وه د کانګرس رئیس د کانګرس راپور ولوست بیا نو میلمنو د کانګرس له تنظیم او دهند له میلمه پالنې څخه خوښی وکړه او جلسه پای ته ورسیده. «ختم»

# د هند د ځینو ښارو او کتابخانو کتنه

کله چه په ډیلی کښې د ختیځ پوهانو ۲۶ بین المللی کانګرس خلاص شو نو د افغانی هیئت دوه تنه ملګری د جنوری په (۱۳) نیټه خپل هیواد ته روان شول او زه یوازې د ځینو ځایو او کتابخانو د لیدو د پاره هند کښې پاتې شوم ما په هند کښې دوه هفتې نورې هم تیرې کړې او ځینې کتابخانې او ښارونه مې ولیدل . ما په هند کښې ددرې کتابخانو د لیدو وخت وموند چه یوه درامپور «رضا» نومې کتابخانه ده ، بله د علیګړ د پوهنتون کتابخانه او بله په ډیلی کښې د ملی موزیم کتابخانه ده .

په دې کتابخانو کښې ما د پښتو ژبې ډیرې زړې قلمی نسخې وموندلې، چه د هرې یوې په باره کښې مې ځینې یادداشتونه واخستل او امید دی چه د کابل مجلو په راتلونکو ګڼو کښې به خپاره شی .

سملاسی زه غواړم چه د ځینو ښارو او د غو کتابخانو د لیدلو یو لنډ راپور ښاغلو لوستونکو ته وړاندې کړم :

## روهیلکنډ

روه د پښتونخوا د غربی سیمې زوړ نوم دی د بهلول لودی او سکندر لودی له زمانې نه وروسته د روه پښتانه د هند په لوری راماتشول . د هند شمالی برخی د دوی په طبیعت او مزاج برابرې وې نو

دغه سیمې یې داستوګنې دپاره غوره کړې دوی په هند کښې رو هیله بلل کیدل او ددوی داستوګنې ځمکه رو هیلکنډ و بلل شو، یعنی د رو هیلو ټاټو بی (له، لی) په پښتو کښې د نسبت لا حقی دی او (کنډ) دښارو اوځایو دنومو په پای کښې راځی لکه دچمر کنډ، ملکنډ او نور.

له ډیلی نه چه سړی په شمالی څنګ مخ په ښکته ولاړ شی نو لومړی د (میرتھ) ښار راځی. له دغه ښار نه مخ په کښته ان تر لکهنو پورې سیمه او ځمکه د رو هیلکنډ په نامه یا د یږی چه یو وخت پکښې د پښتنو نوابی او حکومت ؤ مراد آباد، حسن پور، رامپور، بریلی، انوله، امروهه او سنبل یې ه شهور ښارونه دی.

په دغه هر یو ښار کښې او س په زرګونو پښتانه میشته دی، خو افسوس چه د پښتونولی نښانه نه لری یعنی ژبه یې او ښتی ده. کله چه ژبه واوړه ی نو بیا نور څه پاتې کیږی؟ خټه، تومنه، قام او لس هر څه د ژبې په بدلون اوړی. چه ژبه بدله شی عادت هم بدل شی، رواج هم واوړی، جامه هم بدله شی بیا نو د پښتون او ناپښتون تر منځ تو پیر ورک شی.

رامپور

زه دهند په دغه سفر کښې د پښتو دلټون مینې رامپور ته هم بوتلم.

رامپور په رو هیلکنډ کښې د پښتو یو لوی مرکز ؤ. د غلته به موچه له هر چانه پوښتنه وکړه نو دومره به یې ویل چه زه فلانی خیل او زی یم.

په رامپور کښې د پښتو ډیر خیلونه میشته دی. یوسف زی، کمال زی باجوړی، مومند او داسې نور. د هر چا بیل کندی او کوڅه ده خټک بیل کندی لری او باجوړی او سواتی بیل. له یو هلک نه مې د خیل

پوښتنه وکړه، ویل یې زه (توغی) یم. ما خیال وکړ چه دا به توخی وی ـ مګر د نواب محبت خان په فرهنګ کښې مې ولیدل چه (توغی) د پښتو یوه تپه وه. د رامپور سپین ږیری وایی چه زمونږ نیکونه دوه کاله پخوا له «ولایت افغانستان» نه د ځته راغلی دی. کله چه په روهیلکنډ کښې د پښتو نوابی اوراج ګونو په زرګونو پښتانه به له (روه) نه راتلل، او د ځته به یې د خپلو چړو موټی ټینګول. د رامپور په ژبه کښې اوس هم د پښتو ډیرې کلمې شته چه مولانا عرشی د رضا د کتابخانې کتابدار پرې یو کتاب هم لیکلی دی. په رامپور کښې ځینې پښتنې دودونه تر اوسه موجود دی. دوی د پښتنو ښو خویونو ته (پټان والی) وایی چه د پښتو نولی معنی ورکوی. مثلاً وایی چه دا کار له پټان ولی نه مخالف دی. په رامپور کښې اوس هم چه د چا زوی وشی نو سازندګان راځی، ښاد نامې غږیږی او وایی «توی زوی» (۱) او چه د چا لور وشی نو وایی: «رمه خوره». د دې ځای د خلکو په تندیو کښې اوس هم پښتنی رنګ خپل ځان ښکاره کوی خو د زمانې په تیریدو ورباندې دا ردو سیلاب چپاوراوړی دی او په خپله ژبه یې ورله خړې اړولی دی.

د رامپور خلک ځوانان، سپین ږیری، زاړه واړه او س د اردو د شاعری په رنګ اخته دی. زه د رامپور په درې شپو کښې له ډیرو شعرونو اوریدلو څخه تنګ شوم. هره شپه به یو ځای کښې یوه ډله ځلمیان او سپین ږیری سره راغونډیدل او د مشاعرې بازار به یې تود اوه. د دې ځای په اردو شاعری کښې جذبه او شوق زیات ننوتی دی او دا

(۱) ښایی د توی زوی معنی قوت وی یعنی زوی لکه سیلاب او توی دی او د (رمه خوره) معنی کمزوری وی.

ښیګڼه هم یو پښتنی رنګ لری. کله چه یو سړی په شعر و یلو لاس پورې کړی نو درست غوږونه ورته تکی شی او په (وه وه کیا کهتی هین) باندې دجذباتو څپې په غور زنګ راولی.

یوه شپه مود (حمید) نومی ځلمی په ځای کښې د رامپور د اردو شاعران لکه جلیل نعمانی، شمس شادانی، محمد شا شا اونو رو لیدل. ددوی مشاعره دومره توده وه چه ماهم ورته دکاظم شیدا شعرونه اورول چه یووخت په (رامپور) کښې او سیدلی دی. بله شپه مونږ د (افکار مشرق) په نامه جوړې شوې ادارې ته ولاړو. له وا ره سره دمشاعرې بازار تودشو، خان غازی چه په دې سفر کښې زما ملګری ؤ په دغو مشاعرو کښې لویه برخه اخیسته ډیر مجلسونه به په ده تودیدل اوده به هم ورته خپل اردو شعرونه اورول. ما دغو ځلمیانو ته وویل چه ډیره شاعری ډیره خواری ده.

څه قدر دعمل خواته هم توجه پکارده. ښایی چه تاسی د خپلو پخوانو مشرانو دتاریخ راغونډولو کوښښ وکړیء چه د راتلونکی نسل دډاډ سبب شی.

رامپور یووړوکی مګر ښایسته ښاردی. په دې ځای هم دپښتنو لویه نوابی تیره شوې ده. اوسنی نواب رضا علی خان دحامد علی خان زوی دی په رامپور کښې دنصرالله خان بازار ډیر شهرت لری چه دا هم یو پښتون نواب ؤ. دنواب حامد علی خان کلا یا په بله ژبه شاهی ارګ په مغلی ډول جوړه شوې یوه ښکلی ماڼۍ ده چه اوس په دغه ماڼۍ کښې یوه لویه کتابخانه ده او د رضا کتابخانې په نامه یادیزی.

ددې کتابخانې په زړه کښې دننه دیوې لویې خونې په منځ کښې

یو څو میزونه اوچوکۍ پرتې دی. ددغو میزونو د پاسه همیشه د مطالعې یو څو زاړه کتابونه لاندې باندې ښکاری.

دغلته همیشه یو سکه ناك سړی چه په مخ یې تور اوسپین ویښته سره ګډ شوی دی د کتابونو په کتنه بوخت لیدل کیږی. دغه سړی د رضا د کتابخانې واکدار او منتظم مولانا امتیاز علی عرشی نومیږی چه په خټه حاجی خیل یو سفزی دی. د رضا کتابخانه له ډیر وقیمتی نسخو څخه ډکه ده. د پارسۍ، عربۍ نایاب کتابونه پکښې په ښایسته ښیښو کښې دننه د شوق مندانو او نندارچیانو زړونه خوشالوی. یوه ډیره منظمه او په زړه پورې کتابخانه ده. په دې کتابخانه کښې د پښتو ژبې ډیرې قیمتی نسخې هم شته چه د خو ږمنو پښتنو مشرانو په سپار ښتنه په ډیر کړاو، د زړه په وینو لیکل شوی دی په دغه هره نسخه کښې درو هیلکنډ د نوابانو په تیره د حافظ رحمت خان د کورنۍ پښتنی مینه او جذبه اوس هم په تلایی او بولیکلی او ځلانده ښکاری. په دې قلمی نسخو کښې د خوشحال پوره کلیات چه له (۱۰۰۰) مخونو نه زیات دی په دوه جلده کښې خوندی پروت دی. د رحمان او دولت دیوانونه هم پکښې دی. په دې کتابخانه کښې د نواب محبت خان پښتو فرهنګ، د الله یار خان عجایب اللغات د لیدلو وړ کتابونه دی.

په دې کتابخانه کښې ما دوه نوی کتابونه هم ولیدل چه تر اوسه یې چاته پوره پته معلومه نه وه. یو (اختیارات بدیعی) نومیږی چه یو طبی کتاب دی او مولانا عبد الحلیم ترجمه کړی دی او بل د یوسف زلیخا قصه ده چه احمد نومی لیکوال لیکلی ده.

په دې کتابخانه کښې د پښتو څلویښت جلده قلمی نسخې موجودې دی چه په راتلونکی وخت کښې به معرفی کړی شی.

ما په دې کتابخانه کښې دوه ورځې له سهارنه ترماښامه پورې روژه په خوله داسې ناوزګاره تیرې کړې چه سر به مې له کتابه نه شو پورته کولای. خود ومره خوند پکښې پروت و چه په ټول هند کښې مې بل ځای ونه لید.

رښتیا وایې:

پتنګانو لره خدای په اور کښې ورکړ هغه عیش چه یې بلبلې په ګلزار کا

مراد آباد

درامپور په لاریو مشهور ښار دی. پښتانه خیلونه پکښې ډیر دی. دغلته زمونږ سره یو ځلمی مخامخ شو، روغبړ یې راسره وکړ. مایې چه تندی ته وکتل نوخان غازی ته مې وویل چه دا ځلمی خو په ختټه مومند ښکاری. هغه وویل: هو! دی د نواب یوسف علی خان زوی په ختټه مومند او په (حسن پور) کښې اوسی.

بریلی

بریلی له رامپور نه کښته دلکنهو په لاریو مشهور ښار دی. دا ځای یو وخت د پښتنو نوابانو مرکز و. د حافظ رحمت خان بړیڅ اودده د کورنۍ د نورو کسانو قبرونه ددې ښار په لویدیزه برخه کښې دی. دغه ځای ته (باقر ګنج) وایې.

مونږ چه کوم وخت د حافظ رحمت خان بړیڅ د قبر د لیدو د پاره بریلی ته ورسیدو نو له یوې ښځې نه مو د حافظ صاحب د مزار پوښتنه وکړه هغې راته پوره پته راکړه او ډیر زر مو د هند د بړیڅو هدیره ومو ندله. د حافظ رحمت خان د قبر د پاسه یو ښه ګومبت جوړ شوی دی. وایې چه دغه ګومبت دده لور جوړ کړی دی.

کوم وخت چه حافظ رحمت خان د انګریزانو او شجاع الدوله په

جنګ کښې شهید شو نو زامن یې و نیولی شول اود (اله آباد) په کلا کښې بندیان کړی شول ، نو دغه وخت د حافظ پښتنې او غیرتی لور دخپل پلار دقبر دجوړولو پیټی په خپلو اوږو واخیست او یو ښه ګومبت یې ور باندې جوړ کړ .

دحافظ رحمت خان دمزار په دروازه باندې دغه بیتونه لیکل شوی دی .

کرد دخت حافظ رحمت خان بنا روضه بر قبر پدر فردوس وش
سال هجری بود چون ترمیم شد یکهزار ودو صدو پنجاه و شش
سر کشته بر نیزه میزد نفس که معراج مردان همین است وبس

حافظ رحمت خان په رو هیلکنډ کښې ډیر ښه شهرت لری او خلک یې د یولوی غازی او مجاهد په نامه یادوی .

دحافظ د کورنۍ هدیره یوه ځانله سیمه لری کښته خوا ته یې دنمسو قبرونه دی لکه نواب مستجاب، نواب احمد یار، نیاز احمد هوش او نور. مونږ دد غو لاندې کسانو دقبرونو لوحې ولوستلی شوې .

۱ - حافظ یار محمد خان دمحمد یار خان زوی درحمت خان نمسی، دمړینې نیټه (۱۲۶۰ هـ)

۲ - نیاز محمد خان دمړینې نیټه ۱۸۹۲ ع

۳ - نواب عبدالعزیز خان د مړینې نیټه ۱۳۰۹ هـ

۴ - نواب عبدالرشید خان دنواب عبدالعزیز خان زوی دمړینې نیټه (۱۳۴۷ هـ)

دحافظ د ننګیالی زوی نواب عنایت خان قبر لږ څه پورد بېرودو نو په یو ځنګل کښې ؤ خو قبر یې نړبدلی او په بدحال کښې دی یوازې دسر تخته یې روښانه ده اولیکلی خط یې لوستل کیږی چه د مړینې نیټه یې (۱۱۸۷ هـ) ده .

په دغه هدیره کښې ددغې کورنۍ دمیرمنو قبرونه هم شته خو ښه نه معلومیږی یوازې د حافظ رحمت خان دیوې نمسۍ (نگهت آرا بیگم) دقبر لوحه لوستل کیدای شی. مگر اوس ددغې هدیرې حال خراب او ګډوډ دی او داسې معلومیږی چه دغلته یې اوس دپوښتنې هیڅوک نه دی پاتې شوی.

دنواب محبت خان او الله یار خان قبرونه مو پیدا نه کړی شول وایی چه دنواب علی محمد خان قبر په (انوله) کښې دی چه دروهیلکنډ یو بل مشهور ښار دی.

## د علیګړ پوهنتون

له رامپور نه وروسته مونږ د (چندوسی) په لار په ریل کښې علیګړ ته ولاړو. دریل د سفر قصې اوله خلکو سره خبرې اومرکې ډیرې اوږدې دی نو هغه دلته نه شم لیکلای. مونږ په علیګړ کښې یوه شپه اویوه ورځ تیره کړه. د علیګړ پوهنتون په هند کښې ډیر شهرت لری. ددې پوهنتون لومړنی جوړوونکی سرسید احمد ؤ چه دهند د مسلمانانو په تاریخ کښې لوی نوم لری. دا پوهنتون په یوه لویه ځمکه کښې پروت دی دودانیو او باغونو له مخه ډیر تازه او ښیرازه ښکاریده. دعلیګړ د پوهنتون اوسنی چانسلر (طیب جی) نومیږی چه د بمبیی اوسیدونکی دی مونږ ورسره یو څو دقیقې خبرې وکړې اوخپل مطلب مو ورته څرګند کړ بیا یې اجازه راکړه اودپوهنتون کتابخانې ته ولاړو.

هلته مو ټوله ورځ یوازې دمیا روښان د (حالنامی) په لید لو تیره کړه دحالنامې دغه نسخه په «۵۰۰» مخونو کښې په ښه خط لیکلې شوې ده اویوه ډیره قیمتی او نایابه نسخه ده ماترې ځینې معلومات

رانقل کړل خوټوله مې تر پایه‌ونه کتلای شوه. امید دی چه دغه معلومات به د «کابل» په راتلونکو ګڼو کښې خپاره کړی شی.

مونږ دعلیګړ په ښار کښې یو لنډ غوندې چکرهم ووا هه، ګڼه ګوڼه په کښې ډیره وه خوخو مره چه یې نوم مشهور دی په هما غه اند ازه پاکی اوصفایی پکښې نه وه.

دډیلی ملی موزیم

کله چه له دغه لنډ سفر نه بیرته ډیلی ته راغلم نو یوه ورځ دډیلی ملی موزیم ته ولاړم. دډیلی په ملی موزیم کښې هم د پښتو ځینی قلمی نسخې موجودې دی دغلته مې هم یوه ورځ د پښتو د قلمی نسخو په کتلو تیره کړه. خودغه ورځ مې ډیر کړ اوولید، ځکه چه له یو ې خوا روژه وه له بلې خوا کوټه ډیره سړه وه له بله پلوه بی نظمی اوبی ترتیبی وه. دغلته یو څو تنه کار کوونکی هم وو چه یوه پکښې میر من وه. ددوی ډیرو خبرو اوتودې مرکې زمونږ دوکر دګډو ډیدو سره پوره کومك کاوه دوی په خپله خوږه مرکه بوخت وو، دنا زخندا ګانې یې کولې اوزه دپښتو دقلمی نسخو دپاڼو په لټون اخته وم.

په هر صورت ما په دغه ځای کښې خپله مطالعه و کړه اود پښتو ډیرې قلمی نسخې مې وکتلې. په دغو نسخو کښې زیات د پښتو نایاب دیوانونه شته چه تراوسه پورې مونږ ته معلوم نه وو لکه دصدیق دیوان، دملا لنګړ دیوان، دملا علم دیوان، دحبیب الله دیوان اونور. دغه قلمی نسخې په اصل کښې دټونك دنواب امیر محمد خان په شخصی کتابخانې پورې اړه لری چه دمولانا ابوالکلام آزاد په امر له هغه ځایه دډیلی ملی موزیم ته راوړل شوی دی. دټولو قلمی نسخو

پشتۍ په یو ډول دی او دمرحوم نواب دپښتو پالنې پوره مینه ترې ښکار یږی. مګر اوس دغه نسخې په ګډوډ حالت کښې پرتې دی. دزیاتو پشتۍ شلیدلی دی په کاغذونو کښې یې تاوکړی دی او په تارونو یې تړلی دی. ماددغه ځای مؤظف مامورته وویل چه باید ددغو نسخو دساتنې دپاره پوره پاملرنه وشی. هغه هم راسره وعده وکړه چه زه به په دې باره کښې یو څه وکړم نو خدای خبر چه څنګه به شی؟ په هر صورت دپښتو دادب دپاره دډیلی دملی موزیم د قلمی نسخو ذخیره هم یو ه قیمتی پانګه ده اوښایی چه پوره فایده ورځنی واخستل شی.

امیددی چه دکابل مجلو په راتلونکو ګڼو کښی به ور باندې زیاته رڼاو اچول شی. داؤزما دلیدنو کتنو لنډراپور.

رشتین

# دختیځ پوهانو په ۲۶ کانګرس کښې

## دافغانی هیئت فعالیت

که څه هم افغانی هیئت دشمیر له مخه ډیر وړوکی اوله دریو نفرو څخه جوړؤ خو بیا هم دغه هیئت د ختیځ پوهانو په ۲۶ کانګرس کښې پوره فعالیت وښوداوډیر ختیځ پوهان یې دپښتوژبې له ادب او تاریخ سره اشنا کړل. کله چه ښاغلی رشتین دپښتو د نثر د تاریخ په برخه کښې خپل کنفرانس واوراوه نوډیرختیځ پوهان ورته متوجه شول اوداپوښتنه یې وکړه: «پښتوژبه چه دومره ډیر اثار اوکتابونه لری نوداڅه وجه ده چه مونږ پرې تراوسه نه یو خبر شوی؟»

یوه امریکائی ډاکټر R.N.Frye داپوښتنه وکړه چه «مونږ خو تراوسه پورې دپښتو له کتابونو اوآثاروڅخه نه یوخبر، دغه کتابونه به زه له کوم ځای نه لاس ته راولم؟ تاسې په انډیا کښې دپښتو نشراتو د خرڅون دپاره کومه څانګه لری ء که نه؟ زه غواړم چه یو ځل افغانستان ته ولاړشم اوپه خپله دغه آثاروګورم.»

دډاکټر R.N.Frye په ځواب کښې ښاغلی رشتین وویل: «کومو قومونو اوپوهانوچه غوښتل چه له پښتونه ځان خبرکړی نوهغوی ټول دپښتودادب له تاریخ، کتابونو اوادبیاتو نه ښه خبر دی لکه انګریزان، جرمنیان، فرانسویان اوروسیان مګر تاسې چه تراوسه پورې ناخبره پاتی شوی یې ء علت یې دادی چه تاسی دځان دخبرولو کوښښ نه دی کړی اواوس امید دی چه تاسې هم پوره خبراو په پښتو کښې دمعلوماتو خاوندان شی ء.»

دغه شان کله چه ښاغلي شپون داولسي ادب دڅرګندولو په لړ کښې خپله وينا واوروله نو په ډيرو کسانو يې اغيزه وکړه اودپښتو داولسي ادب ښيګڼو ته پوره متوجه شول .

دپښتو دادبياتو په باره کښې دافغاني هيئت له کنفرانسونو څخه وروسته دهرچا په زړه کښې داتلو سه پيداشوه چه يوځل افغانستان ته ولاړشي او په خپله دپښتو دادبياتو په باره کښې آثاراو کتابونه وګوري .

افغاني هيئت دشپږو ورځو په موده کښې دنړۍ له بيلو بيلو پروفيسرانو په تيره له هغه چا سره زيات مجلسونه وکړل چه هغوی دافغانستان اودافغانستان له تاريخ اوادبياتو سره څه ناڅه علاقه لرله .

دغه تماس او پيوستون هيمشه موجودؤ، افغاني هيئت دنوی ډيلی په (جان پت) نومی هوټل کښې ديره ؤ. دغلته د کانګرس ډير غړی اونور پروفيسران هم ديره وو نوله دې کبله ورسره هميشه دخبرو اترولړۍ جاری وه .

افغاني هيئت دنړۍ نوميالو پوهانو ته په (جان پت) هوټل کښې دغرمه ناری ميلمستيا هم کړی وه. په دغه ميلمستيا کښې نزدې ديرشو تنو پوهانو ګډون کړی ؤ چه دځينونو ميالو پوهانو نومونه يې دادی :

پروفيسر مارګن سټرن، پروفيسر بار، پروفيسر لونزالماني، پروفيسر هومباخ، پروفيسر عبدالغني ميرزايوف، ډاکټر علي اکبر جعفری، ډاکټر عابدی، موسيو رادار اودده ميرمن ، موسيو کيفراوځيني نور پوهان .

لنډه داچه په دغه کانګرس کښې دافغانی هیئت فعالیت له هره حیثه ډاډ وړو. په دې کانګرس کښې چه دپښتو ادبیاتو دمعرفی دپاره څومره کارشوی دی هغه په بل هیڅ وخت کښې نه دی شوی.

ددې خبرې یوه وجه داده چه دهیئت در یواړه کنفرانسونه دپښتو دادبیاتو اوآثارو دښودنې په باره کښې وواو بله وجه داده چه دهیئت غړو دنړی له پوهانو سره دخبرواترو په منځ کښې هم همیشه دغه وظیفه په ښه توګه سرته رسولې ده اودپښتو دمعرفی دپاره یې پوره زیار ویستلی دی. هر کله چه دغسې بین المللی کانګرسونه دیوهیواد دمعرفی دپاره ډیرزیات اهمیت لری نوځکه ښایی چه پس له دې ورته له پخوانه هم ډیره توجه وشی اوپه سرسری نظر ورته ونه کتل شی. که چیرې دوروسته دپاره ددې لاندوټکو خیال وساتل شی نودا به ددغه مرام دپوره کولو دپاره ډیرسودمن وی.

۱- ښایی چه دغسې غونډوته دهیواد نو میالی پوهان اوپاخه کسان ولیږل شی.

۲- ښایی چه په مرکز کښې دختیځ پیژندنې یوه څانګه جوړه شی چه هغه همیشه له ختیځ پوهانو سره ارتباط وساتی.

۳- ښایی چه ټول کنفرانسونه ددغې څانګې له خوا اوکتل شی.

۴- پکار دی چه ټول کنفرانسونه په خارجی ژبو ترجمه او نشرشی

۵- ښایی چه ټول کنفرانسونه دخبرتیا دپاره په خپلو ژبو خپاره شی.

داو دافغانی هیئت دفعالیت یو لنډ غوندې راپور.

# راغلی لیکونه

کوم وخت چه د پښتو ټولنې یو هیئت د ختیځ پوهانو په ۳۶ کانګریس کښې د ګډون د پاره ډیلمی ته تللی ؤ، نو هلته یې د ډیرو ختیځ پوهانو سره پیژندګلی پیدا کړه. د دغې پیژندګلۍ په سلسله کښې د ځینو پوهانو او عالمانو لیکونه پښتو ټولنې ته راغلی دی. چه مونږ یې د ګرانو لوستونکو د کتنې د پاره خپرول مناسب بولو او په دې وسیله له هغوی سره د خپل ارتباط مزی ټینګول غواړو.

لومړی لیک

د ښاغلی ډاکترمون فریدلورنتسو

د لیک پښتو ترجمه:

پوهاند صدیق الله رشتین - د پښتو ټولنې مشر!

ډېر شکر کوم چه ستاسې په ځیک سرلوړی شوم. ستاسې پښتو ګرامر په ډېره مینه راورسید. زه پوره یقین لرم چه دغه کتاب به زما د پاره د پښتو په مطالعه کښې ډېر سود من واقع شي. ما ته اجازه راکړئ چه تاسې ته په یوه بله مسئله کښې رجوع وکړم.

تاسې به خبر یاست چه ستاسې په باره کښې «د دنیا د ادبیاتو په انسکلو پیډیا» کښې چه دلته خپره شوی ده څو کلمې ویلی شوی دی. اوس په سوداکښې یم چه په دغه مقاله کښې خطایی نه وی راغلی نو له تاسې نه څو پوښتنې کوم:

۱ - ستاسی دزېږېدنی نېټه کومه ده ؟
۲- ستاسی اوسنی شغل څه دی ؟
۳- ستاسی مهم اثرونه کوم کوم دی ؟
زه به ډېر خوشاله شم که په دې صورت کښې زماسره کومك وکړیء . که له ما نه کومه پوښتنه لری زه ځواب ته حاضریم .

ډاکتر مون فریلو لورنتس
برلین - No - 55

ځواب :
۱- زمادزېږېدنی نېټه تخمیناً ۱۹۲۰ ع کال دی .
۲- زه اوس د کابل د پښتو اکیډیمی مشریم.
۳- زما مهم کتابونه دادی :
د پښتو ادب تاریخ- د پښتو لوی گرامر- پښتو اشتقاقونه- د هند سفر- د ژوند سندره - پښتو ژب ښودنه - د پښتو نثر هینداره
دو هم لیک
د ښاغلی ګک- مردیث اونس دلیك
پښتو ترجمه

ښاغلی داکتر رشتین !
ستاسی د نفیس کتاب پښتو گرامر یوه نسخه چه زما د پاره مو رالیږلی ده، ماوکتله. اوزه پرې ډېر خوشاله شوم .
تاسی دغه کتاب زمادپاره رالیږلیؤ خوهغه د برټش موزیم مامورینو دځان دپاره واخیست ما دهغه کتاب رسیدل تاسی ته درو استاوه .

ګک . مردیث اونس
دختیځ پیژندنی څانګه
برېټش موزیم -
لندن

د ریم لیک

د داکتر یوسف عزالدین

د لیک پښتو ترجمه

استاد پوهاند صدیق الله رشتین- د پښتو اکاډمۍ مشر !

ستاسې ښه تحفه د پښتو ګرامر راورسید .

زه د پښتو ژبې له زده کړې سره ډېره مینه لرم . ستاسې د کتاب له راليږلو څخه ډېر تشکر کوم . زه بیا په دې خبره ډېره خوشالې ښکاره کړم، چه تاسې د پښتې ژبې ګرامر چه په فارسي لیکل شوی دی ماته راليږلی دی. دغه کتاب ماته پس له ډېر انتظار نه راورسید . ماهم تاسې ته د خپلو کتابونو مجموعه درا ستولې ده. امید کوم چه فایده به ورڅخنې واخلئ

د کتور یوسف عزالدین

د عراق د المجمع العلمي

سکرتر - بغداد

څلورم لیک

د ښاغلي پروفیسر هومباخ د لیک

پښتو ترجمه

ښاغلي پروفیسر رشتین !

کله چه مونږ په نوی ډیلي کښې سره ولیدل، نو ما تاسره وعده وکړه چه زه به تا ته هغه مقاله چه په نوی ډیلي کښې مې لوستې ده په کابل کښې به یې درکړم. څه رنګه چه ما په کابل کښې و خت پیدا نه کړچه تاوګورم، نوزه په منې کښې کابل ته راځم .

او کوښښ به وکړم چه تاوګورم .

اوس مې په خپله مقاله دوهم وار نظراچولی دی. زه امیدلرم چه ستاسو مینه ورسره ډېره ده .غواړی چه ترجمه یې کړی او داکاډمۍ په مجله کښې یې خپره کړی . لا کن ستاسی آدرس راته پوره معلوم نه دی. هر کله چه تاسی خپل آدرس راوښود نوزه به خپلې خپرونې درلیږم .

ستاسی ملګری پروفیسر هلمت هومباخ

فرید ریخ ـ ون ـ فیفر ـ ویګ ۵

غربی المان

## پته

غازی واټ ، شمالی برخه ، نوی ښار
کابل- افغانستان
دپښتو ټولنې درئیس
ټیلفون لمبر ۲۰۳۵۰
کابل مجلې دټیلفون لمبر ۲۱۷۱۶

---

## داشتراك بیه

(په افغانی)

په کابل کښې ۴۰
د هواد په نورو برخو کښې ۴۶
زده کوونکو ته نیمه بیه :
۱- کابل ۲۰
۲- اطراف ۲۳
د باندې ملکو کښې : ۵ امریکایی ډالر
دیوی کښې بیه : ۴
د شپږو میاشتو اشتراك هم منل کیږي
د پښتو ټولنې د جاری حساب لمبر په افغانستان بانك
او اطرافي نمایندګیو کښې یې : ۷۱۸۷
داشتراك بیه په ادارد کښې هم اخیستل کیږي

(۵۳)

# پرله پسې ګڼه (۱۱-۱۲)

دولتی مطبعه

# KABUL

# Monthly Journal Of The Pashto Academy

Publishes articles in Pashto on Literature, Philosophy, Philology, Sociology, Art and related fields

2 NOV 30
COPY 1964

President of the Academy Pohand Reshteen
Editor: M. Sidiq Rohi
Co-editor M. Moman Patwal
Address Pashto Academy
Kabul, Afghanistan